**د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون**
**AIHRC**

# د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون- او يوناما له خوا
# د سياسي حقونو، د ولسمشريزو او د ولايتي شوراگانو د ټاکنو د گډ نظارت
# دوهم راپور
# د جون ۱۶- د اگست تر لومړۍ نېټې، ۲۰۰۹



**په افغانستان کې د ملگرو ملتونو مرستندويه پلاوى**

**يوناما**

## د اساسي موندنو لنډيز

- د نا امنۍ د زياتوالی سره سره افغانانو په پوره ليوالتيا او اشتياق سره د خپلو سياسي حقونو څخه د ګټې اخيستنې په موخه د جمهوری رياست او ولايتي شوراګانو په ټاکنو کې د ګډون اظهار وکړ.

- نظارت دا څرګندوي چې د ۳۱۹۵ تنو د ولايتی شوراګانو لپاره د نوماندو اود جمهوري رياست لپاره د ۴۰ تنو نوماندانو کمپاينونه په پراخه پيمانه په پوره وياړ او ژمنتيا سره ترسره شول چې دې د ډيرو ګرمو بحثونو لپاره زمينه برابره کړه.

- د کمپاين په پړاو کی که څه هم نا امني د پام وړ خنډونه د سياسي حقونو څخه د ګټه اخيستلو لپاره رامنځه کړی خو د دې سره د نوماندانو اود هغوي د ملاتړ کوونکو سياسي حقونه د څو محدودو مستندو تخلفاتو او خشونتونو په پرته په عمومي صورت سره رعايت شوي دي. په دغو تخلفاتو او خشونتونو کې د څلورو ممکنه د ټاکنو د اړوندو وژنو پيښې شاملې دي: د جولای په ۶ نېټه د چمتال دولسوالۍ (بلخ) د مدني روزونکو د ټيم د مشر او د هغه د پوليس محافظ وژنه، د جولای په ۱۹ نېټه د دشت ارچي د ولسوالۍ (کندز) څخه دولايتي شورا لپاره د خپلواک نوماند او د هغه د ملګري وژنه، د جولای په ۱۵ نېټه د کاپيسا د ولايت د نجراب په ولسوالي کي د عبدالله عبدالله د کمپاين د مشر وژنه او د جولای په ۳۰ د ولسمشر کرزی د کمپاين په يوه نقليه وسيله د ليرې څخه د کنترول کيدونکی تعبيه شوی چاوديدونکی وسيلي په ذريعه بريد چې په نتيجه کې يې څلور تنه (د کرزی د ولسوالی د کمپاين د مدير په ګډون) د جوزجان د ولايت د آقچې په ولسوالی کې ووژل شول.

- د ښځو د سياسي حقونو د حالت په اړه زياتي انديښني شته. ښځې د کمپاين په برخه کې (د چارواکي د مقام د څوکي لپاره د درېدو د حق څخه) او د رايو ثبت ته د رسيدني څخه شاته او محرومې پاتې کيږي او دا چې د ټاکنو د قوانينو او مقرراتو څخه د تخلفاتو په صورت کې يې د حقونو تلافی نه کيږي.

- د دولت ضد عناصرواو د سيالو نوماندانو او د هغوي د ملاتړو له خوا د دې اصل څخه د زياتيدونکی تيری چې تهديد او تخويف بايد رامنځته نه شی يوه انديښنه ده. د دولت ضد عناصرو د نه تهديد او نه ډارونې د اصل څخه د تيری په زياتو مواردو کې مسول دي. د بې طرفۍ د اصل څخه تخلف په تيره بيا د دولتی زيرمو او رسمی دريځونو څخه ناوړه ګټه اخيستنه د نوماندۍ له پړاو څخه را وروسته کله نا کله ليدل کيږي.

- نا امنۍ د نوماندانو او د هغو د ملاتړو لپاره د خوځښت آزادي ډيره زياته محدوده کړې ده او د هغو د بيان د آزادۍ په وړاندې يې خنډونه راوستي دي، او په دې توګه هغوي په ښکاره سره د عامو کمپاينونو د لارې او هم کور په کور د ليدنو او کتنو د لارې د رايو اخيستو په حوزو کې خپله ځواکمنتيا نه ده کارولې او هغه زيانمنه شوې ده. دغو محدوديتونو د ټولنو د جوړولو او سوله ييزو غونډو د آزادۍ په لار کې د پام وړ خنډونه جوړ کړی او د ټاکنو په پروسه کې يې د ښځو د ګډون په وړاندې ستونزې خورا زياتې کړی دي. همدغو محدوديتونو د شکايتونو او د رايه اچوونو او شميرنې پروسه او د رايه اچوونکو لپاره د مدني روزونکو فعاليتونه د ننګونو سره مخ کړی ده. په عين وخت کې د ټاکنو خپلواک کميسيون د افغان ملي امنيتي ځواکونو او نړيوالو وسله والو ځواکونو سره په نږدې همغږۍ کې کار کوي څو د رايه اچوونکو، د ټاکنو د خپلواک کميسيون د کارمندانو، څارونکو او د نوماندانو د استازو لپاره د رايه اچووني ځايونو ته رسيدنه مصؤنه کړي.

# د مطالبو فهرست

د مطالبو فهرست

**I. پيژندګلوی**
الف: د راپور موخه او ساحه
ب: د راپور متن
ج: میتودولوژي

**II. د کمپاین پړاو: اساسي فعالیتونه او عمده ټکي**
الف: کمپاین کول
ب: د رایه اچووني او رایه شمیرنې لپاره تیارئ
ج: د اعتراضاتو او شکایتونو پروسس کول

**III. د ټاکنو چاپیریال: نا امني**
**IV. د اصولو او حقونو رعایت**
الف: نه ډارونه
ب: بې پلوي یا بې طرفی
ج: نه تبعیض او توپیر
د: د بیان آزادي
هـ: د خوځښت، سوله ییزې غونډې او انجمن جوړولو آزادي
و: د اصولو او حقونو د رعایت په اړه عمومي نتیجه ګیري

**V. د کمپاین پر مهال د ښځو حالت**
الف: کمپاین کول/ د څوکۍ لپاره دریدل
ب: د رایه اچولو د حق تامینول او کارول

**VI. وړاندیزونه**
الف. د کمپاین د پړاو په اړه یادونه
ب: د رایه اچووني او رایه شمیرنې ورځ

**وروستنی یاددښتونه**

## I. پيژندګلوی

**الف: د راپور موخه او ساحه**
دغه دويم راپور چې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون او په افغانستان کې د ملګروملتونو د مرستندويه پلاوی (يوناما) د سياسي حقونو د نظارت د پروژې په ترڅ کې برابر شوی دی د نوماندانو، رايه ورکوونکو د کارکوونکو د سياسي حقونو حالت په افغانستان کې د ۲۰۰۹ کال د جمهوري رياست او ولايتي شوراګانو د ټاکنو لپاره د کمپاين په بهير کې ارزوي. دغه راپور د ۲۰۰۹ کال د جون د مياشتې د ۱۶ نېټې څخه د اګست تر لومړی نېټې پورې موده تر پوښښ لاندې نيسي.

دغه راپور د سياسي حقونو رعا يت کول ارزوي او د شريکانو سره د مرستې په لړ کې وړانديزونه برابروی څو د افغانانو توان او صلاحيت د دې لپاره پراخه او زيات شي چې د سياسي حقونو څخه برخمن او د آزادو، عادلانه، شفافو، با اعتباره، مصونه او د عمومی ټاکنو پروسه باوري کړي.[1]

> **د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون او يوناما له خوا د سياسي حقونو نظارت ۲۰۰۹**
> د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون او يوناما د سياسي حقونو نظارت پروژه د دې لپاره طرح شوې ده چې د سياسي حقونو د احترام او تحفظ اندازه د مسوولو چارواکو او کليدي شريکانو له خوا و ارزوي او د آزادو او منصفانه ټاکنو لپاره د مساعد چاپيريال د رامنځته کولو په لار کې وړانديزونه وکړي.
>
> د سياسي حقونو نظارت د نوماندی او اعتراضونو، د کمپاين پرمهال، د رايه اچووني او لومړنی شميرني په پړاونو کې د ټاکنو د فعاليتونو نظارت د دريو اصولو (نه تهديد او ارعابُ بې پلوۍ او نه تبعيض) او څلورو بشري حقونو (د بيان،خوځښت، سوله ييزو غونډو او انجمن جوړولو آزادي) د رعايت لپاره دی. د دغو اصولو او حقونو بشپړ رعايت په عمومي صورت کې د دې لپاره ډېر زيات مهم ګڼل کيږي چې افغانان د دې توان او صلاحيت وموميي څو په پوره ډول د رايې ورکووني او انتخاب کيدو حق څخه په هغو ټاکنو کې برخمن شي چې د پټو او محرمو رايو د لارې ترسره کيږي چې د رايه اچوونکو د ارادې تمثيل دی. په افغانستان کې د اوسني حالت په پام کې نيولو سره د ښځو حالت ته د ټاکنو په پروسه کې ځانګړی پاملرنه او توجه شوې ده.
>
> د سياسي حقونو نظارت د دې لپاره نه دي چې د دغو اصولو او بشري حقونو څخه هر ډول تخلف فهرست کړي خو د دې پرځای هڅه کيږي چې د عمومي جريان تحليل ترسره شي.
>
> د سياسي حقونو د نظارت د يوې برخې په توګه د هر پړاو په اړه عام راپورونه د تحليلونو او وړانديزونو سره يو ځای نشريږي. لومړنی راپور چې د نوماندی او اعتراضونو د وړاندې کولو د پړاو په اړه وو د ۲۰۰۹ کال د جولای په ۷ نېټه نشر شو.

**ب: د راپور متن**
دغه راپور د پورتنيو ياد شوو اصولو او بشري حقونو د رعايت په اړه د دغه پړاو د درې اساسي فعاليتونو په برخه کې تمرکز لري:

(۱) د نوماندانو او د هغوې د ملاتړو له خوا کمپاين کول؛
(۲) د رايه اچووني د ورځې لپاره تياری چې په کې رايې ورکوونکو لپاره مدني ښوونه، د رايه اچووني د مرکزونو تنظيم، او د رايه اچونکو د وروستنيو ارقامو برابرول، او
(۳) د ټاکنو د خپلواک کميسيون او د ټاکنو د شکايتونو د کميسيون له خوا د اعتراضونو او شکايتونو پروسس کيدل.

دغه راپور د کمپاین د پړاو په اړه د اندیښنې وړ مسالې او هغه اندیښنې چې د رایه اچونې او شمېرنې په اړه راولاړېږي په نښه کوي او د دې د مخنیوی او ښه کیدو د اقداماتو د ترسره کولو وړاندیزونه کوي چې د کمپاین د پړاو د یادونې په هکله دي او یا هم د رایه اچوونې او شمیرنې لپاره دغه هغه اندیښنې چې د ښځې مانع ګرځې څرګندې دی.

دغه راپور همدارنګه د امنیتي حالت پر هغو اغیزو غور کوي چې د افغانانو له خوا د هغوي د حقونو د کارونې په برخه کې دي او یا هم د ټاکنو د موسسو او د افغانستان د دولت له خوا د دغو حقونو د درناوي او پوره کولو په برخه کې د ځواکمنتیاوو ارزونه ده. دغه ډول بحث د دې لپاره ډیر مهم وګڼل شو چې د کمپاین په پړاو کې د سیاسي حقونو د حالت کره او دقیق تحلیل وړاندې شي چې دا د دې پړاو د ډیرو برجسته مشخصاتو څخه و او دا چې د نا امنی د حالت سره کمپاین، د رایه اچوونې تیاری او د اعتراضونو پروسس کول عیارول او برابرول غواړي.

**ج. میتودولوژی**

د کمپاین د مهال میتودولوژی زیاتره د کاندیدانو د نوماندۍ او د اعتراض د مهال څخه اخیستل شوې ده. څارونکو د یوناما د ۲۱ او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د ۱۲ دفترونو څخه دا کار ترسره کړی دی :

- هغوي تخلفات او یا هم د حقونو او اصولو د محدودولو په اړه ادعاوې ثبت کړی دي چې د افغان وګړو او یا هم چاراواکو له خوا وړاندې شوي دي،
- د بیان د آزادۍ په برخه کې د رسنیو نظارت په ځانګړی تمرکز سره ترسره شوی دی،
- د دولتي چارواکو، سیاسي ګوندونو، نوماندانو، د ټولنې د مشرانو، رسنیو، د ټاکنو د کارکوونکو او نورو سره مرکې ترسره شوي دي چې په ښه توګه د هغو جریاناتو او عمومي انګیرنو څخه معلومات تر لاسه شي چې د انتخاباتي پروسې په اړه شتون لري، او
- د هغه چاپیریال په اړه د اړوندو شریکانو سره مشورې شوي دي چې په کې د انتخاباتو پروسه سرته رسیږي، په تیره بیا د هغو عواملو په اړه چې کولای شي د سیاسي حقونو څخه د ګټه اخیستنې او د ښځو د بشپړ ګډون په برخه کې موانع راولي او یا د هغو څخه د تخلف زمینه برابره کړي.

د راپور ورکولو په دې پړاو کې زیاته تکیه په هغو مرکو، مشورو او معلوماتو باندې وه چې تر دې وړاندې راټول شوي و. دغه ډول لیږد د دې له امله وشو چې د امنیتي حالت زیاته اغیزه د کمپاین د مهال پر فعالیتونو راغله چې د قضیې پر بنسټ د روش له لارې یې اندازه او ارزونه نه شي کیدلای. دغه ډول کیفیتي او د قضیې مشخص شواهد او مدرکونه په دې راپور کې ګډ کړی دي چې بیلګې یې په متن او نور ثبوت یې د پایلې په یاددښتونو کې ځای کړای شوی دی. د دې سربیره دغه راپور د حقونو او اصولو په اړه د محدودیتونو ترمنځ توپیر کوي چې د عمومي امنیت له امله د خوځښت په برخه کې د خنډونو په شمول دي او هغه محدودیتونه چې د انتخاباتي پروسې په اړه ځانګړی دي لکه د نوماندانو ترمنځ سیالي چې د ډارونې لامل شوی دي او یا هغه ګواښونه او تهدیدونه چې د دولت ضد عناصرو له خوا دي او د ټاکنو د پروسې سره تړاو لري.

## II. د کمپاین پړاو: اساسي فعالیتونه او عمده ټکي

### الف. کمپاین کول [2]

لکه چې د افغانستان د بشري حقونو دخپلواک سازمان ریسې ډاکټرې سیما ثمر دې ته اشاره کړې ده چې د زیاتیدونکې نا امنی سره سره، د افغانستان خلکو د جمهوري ریاست او د ولایتي شوراګانو په راتلونکو ټاکنو کې د ګډون لپاره په لوړه کچه د خپلې لیوالتیا او جوش ظاهر کړې دی. د ولسمشریزو او د ولایتي شوراګانو نوماندانو او د هغو ملاتړو دواړو د هیواد په کچه خپل سیاسي کمپاینونه د کمپاین د پوسترونو د ځړولو، د عامو لاریونونو، کور په کور درایې غوښتنې، د مهمو لاسلیکونو راغونډولو او د رسنیو د پوښښ د لارې پیل کړل.[3] یو له ډیرو د پام وړ د کمپاین له پیښو څخه هغه تلویزیوني مناظره وه چې د جولای په ۲۳ نیټه د طلوع تلویزیون له خوا خپره شوه چې د ۱۰ میلیونو څخه زیاتو افغانانو یې ننداره وکړه. د جمهوری ریاست د مقام لپاره نوماندانو هر یو ډاکټر اشرف غنی احمدزی او ډاکټر عبدالله عبدالله په دغه مناظره کې ګډون درلود. ولسمشر کرزی په دغه مناظره کې ګډون ونه کړ.[4] رسینو ته د نوماندانو د رسیدنې او د پوښښ مسله په رسمي توګه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون، د رسینو د انتخاباتي کمیسیون چې د مې په ۱۰ نیټه جوړ شوی دی(د IV (د) برخه وګورئ) نظارت کیږي.[5]

## ب. د رایه اچووني او رایه شمیرني لپاره تیاری

**د رایه ورکوونکو د ثبت بشپړتیا**
د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رایه ورکوونکو ثبت پای ته ورسول. د جون په ۲۰ نېټه د ولایتونو په مرکزونو کې د رایه ورکوونکو ثبت پای ته ورسیدلو، چې د دې وروسته د رایو د ثبت ګرځنده او خوځنده بهیر د (د جون د ۲۲ څخه د جولای تر ۱۱پوری) پیل شو څو لیری پرتو سیمو ته ورسیږي. په دغه بهیر کې د ۴،۶ میلیونو څخه زیات رایه ورکوونکي ثبت شول. دغه شمیره سربیره د هغې ۱۲،۷ میلیونه رایه ورکوونکو د شمیرې څخه ده چې د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کلونو ترمنځ ثبت شوي دي.

**د رایه ورکونی او مدني زده کړې**

د اپریل د ۲۳ نېټې څخه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون ۱۶۰۵ د مدني زده کړو روزنکي د هیواد په کچه ځای پر ځای کړي دی څو چې مخامخ د مدني زده کړو پروګرامونه د ولایتونو، د ولسوالیو او د کلیو په سطحه عملي کړي. په دغو پروګرامونو کې د ټاون هال غونډې، د ټولنو د مشرانو لپاره د ټولنې د انسجام غونډې خوځنده تیاترونه شامل دي. د تیلیفون یو مرکز چې ګڼ شمیر تیلیفوني اړیکو ته ځواب ووایې او اضافي کارمندان لري جوړ شو، ګڼ شمیر پروګرامونه په پښتو او دری ژبو د رسنیو د لارې نشر شول. د دې سربیره د مدني ټولنو موسسو چې مدني روزنې پر مخ بیایې او د ملګرو ملتونو د پرمختیایی پروګرام د ټاکنو/ایلیکټ د څانګې له خوا تمویل کیږي د افغانستان په زیاتو برخو کې رایه ورکوونکو ته رسیدنه لري.

**ګمارل، مواد او لوجستکي تیاری**

د حساسو موادو تولید او بسته بندي (په تیره بیا د رایو پاڼې) او غیر حساس مواد (د رایه ورکووني سکرینونه، د رایه اچووني د مرکزونو پوسترونه او نور مواد) په عمومي صورت د پروګرام له مخې ترسره کیږي او د هغو ویش پیل شوی دی. د حساسو موادو د رایه اچووني مرکزونو ته رسول د رایه اچووني د مرکزونو د امنیتي وروستنی ارزونې له مخې ترسره کیږي.

د رسیدنې مسلې چې د امنیتي اندیښنو له امله راپیدا شوی دي د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د افغانستان او همدارنګه نړیوال امنیتي ځواکونو لپاره یې د رایه اچووني د مرکزونو د ارزونې د بشپړولو په برخه کې ننګوني رامنځته کړی دي او دا د دې غوښتنه کوي چې د رایه ورکوونکو لپاره دغو مرکزونو ته د رسیدنې پراخه امکانات باوری کړای شي. یو ځای واقع شوی او یا هم ګډ کړا شوي دي (نه بندیدونکی) د رایه ورکووني مرکزونه په پام کې نیول شوي دي څو په دې توګه امنیت تقویه او د رایه ورکوونکو د آزادې رایې ورکووني لپاره پراخه امکانات رامنځته شي. په دې پړاو کې دا جوته نه ده چې څومره د رایه اچوني مرکزونه به خلاص وی.

د هیواد په کچه د رایه ورکووني او شمیرني د کارمندانو استخدام او ګمارل د هیواد په کچه پیل شوی دی. نږدې ۱۶۰۰۰۰ کارمندانو ته چې په کې د رایه اچووني د ښځینه مرکزونو لپاره ښځینه کارمنداني شاملي دي اړتیا ده. د ښځینه کارمندانو د استخدام مسله چې په هغو کې هغه ښځې هم شاملې دي چې د ښځینه رایه ورکوونکو فیزیکي پلټنه ترسره کړای شي د یوې ننګوني په توګه پاتې ده.

په پای کې د کورنیو او نړیوالو مشاهدانو او ناظرانو ته اعتبارنامې ورکول او همدارنګه د نوماندانو د استازو ټاکل روان دی. داسې موسسې لکه ملي دموکراتیک انستیتوت او د جمهوري خواهانو نړیوال انستیتوت د نوماندانو استازو ته د هغوي د دندو او مسوولیتونو په اړه روزنه ورکوي.

## ج. د اعتراضونو (شکایتونو) پروسس کول

د ټاکنو په اړه د شکایتونو کمیسیون د تنګونی د پړاو وروسته چې د جون ۱۲ نېټه وه د اعتراضونو او شکایتونو راټولول پیل کړی. د اګست تر لومړی نېټې پورې دغه کمیسیون ټولټال ۲۷۹ شکایتونه تر لاسه کړل، چې د هغو څخه ځینې د تحقیقاتو لپاره لوی څارنوالی راجع کړی. د راپور ورکولو پر مهال د ټاکنو په اړه د شکایتونو کمیسیون د ولایتي شوراګانو

دوه نوماندان يو د نيمروز څخه او بل د کنړ څخه چي د دولتي څوکيو څخه استعفی ګاني يې نه وې ورکړې رد کړل. د ۲۰۰۹ کال د جولای په ۲۳ نېټه د ټاکنو خپلواک کميسيون د ټاکنو په اړه د شکايتونو کميسيونه ته د جمهوري رياست لپاره د اتوو نوماندانو نومونه وسپارل چا چي د جولای تر ۱۹ نېټي پورې خپل دوره ای مالي راپورونه نه و وړاندې کړي. د ټاکنو د خپلواک کميسيون د طرز العمل له مخې د دغو راپورونو په وړاندې کولو کې په پاتې راتلو سره او يا هم د نيمګړو راپورونو په وړاندې کول سره انتخاباتي سرغړونه رامنځته کيږی. [6]

د ټاکنو د شکايتونو ولايتي کميسيونونو (د ټاکنو د شکايتونو ولايتي کميسيون) هم وروسته له دې چي د کمپاين پړاو پيل شو خپل عمليات پيل کړل. بيا هم د ټاکنو د ولايتي کميسيونونو د دفترونو افتتاح د عملياتي مسلو لکه د دفتر د ځای د تشخيص په اړه د ننګوونو، د افغاني ملي پوليسو په برابرولو کې د ځنډ، امنيت، د ترانسپورت، جنراتورونو او کمپيوترونو په ترلاسه کولو کې د ځنډ له امله وځنډيدله. د ټاکنو د شکايتونو د ولايت کميسيونونو د جوړيدو ځنډتيا د امنيتي حالاتو سره يو ځای دا مانا ورکوي چي د ټاکنو د شکايتونو ولايتي کميسيونونه په پوره ډول فعال نه دي او دا چي د ولسواليو، کليو په کچه خلکو ته رسيدنه خورا محدوده ده. د دې په نتيجه کې د ټاکنو د شکايتونود ولاتيي کميسيونونو ليد او د ټاکنو د شکايتونو د کميسيون دندې په ټيټه کچه دي که څه هم د ټاکنو د شکايتونو کميسيون هڅه کوي څو دغه ستونزه حل کړي. د دغه ځنډني او لږې خبرتيا پايله د نسبتاً لږو شکايتونو رسيدنه ده چي يوازې ۲۷۹ شکايتونه تر لاسه شوی.

### III. د ټاکنو چاپيريال: نا امني

لکه چي د جولای په ۱۳ نېټه د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی کای آيده وويل: "د افغانستان اوسني حالت له هغه څخه ډير پيچلی دی چي د ډيرو کلونو[7] په موده کې موږ ورسره مخ و." دغه پيچلتيا په عمومي صورت سره د هغې نا امنۍ له کبله رامنځته شوې ده چي د افغانستان په بيلا بيلو برخو کې شته. د دې راپور په زمينه کې هغه مشورې چي د شريکانو سره ترسره شوي دي د هغو له مخې امنيت د کمپاين، د ټاکنو د ورځي لپاره د تياريو او د يو اغيزمن شکايتي سيستم[8] په لاره کې د عمده خنډ په توګه تشخيص شوی دی. دا په تيره بيا د هيواد د جنوب او جنوب ختيځ لپاره صدق کوي چيرته چي ډيرو ولسواليو ته په اغيزمنه توګه رسيدنه نه کيږي، خو دا همدارنګه د شمال ختيځ په ځينو سيمو کي (د کندز او بغلان په ځينو برخو کې)، لويديځ (فراه، بادغيس، غور او هرات) او مرکزي زون (لوګر، د کاپيسا په ځينو برخو او د وردګو په ولايت کې) مستند شوی دی.

په داسي حال کې چي د دې اندازه معلومول او ځيني وخت مستند کول ستونزمن دی، دې کې شک نشته چي محدوده فضاء او چاپيريال د زياتيدونکي نا امنۍ له امله رامنځته شوی دی- په تيره بيا د اوړي په موسم کې چي جګړو شدت موندلی دی دا په عين وخت کې په زياته اندازه د خوځښت آزادي محدودوي، د تهديد او ډار چاپيريال رامنځته او د سوله ييزو غونډو د جوړولو او د بيان او انجمن جوړولو ازادي ته زيان رسوي. له همدې امله دا د حيرانتيا وړ نه ده چي ويره او همدارنګه پټې او ښکاره ډاروني او تهديدونه چي د شورشيانو مشخصه ده، د دې لامل ګرځي چي د څوکی لپاره د دريدو او کمپاين کولو او رايه ورکولو په برخه کې سکوت او خاموشي راشي. تر هغه ځايه چي په ښځو پورې په ځانګړې توګه اړتيا دی نا مصؤونه حالت موجود دوديز محدوديتونه لا هم زياتوی چي اکثره وخت د ښځو دا ځواکمنتيا په شديد ډول محدودوي څو هغوي د خپلو سياسي حقونو څخه برخمني وي ( وړاندې پنځمه برخه وګورئ). [9]

**نا امني او کمپاين**

په نا امنو سيمو کې د ګرځيدو په آزادي باندي محدوديت د ولسمشريزو او ولايتي شوراګانو د ټاکنو لپاره ځيني نوماندان او د دوي پلويان له دې څخه منع کړی دی، چي د کمپاين دوديزې طريقي وکاروي او د خبری رسنيو فعاليتونه محدود کړی. د بيلګی په ډول په شمالي سيمه کې د ولسمشريزو ټاکنو لپاره د يوه نوماند د کمپاين تنظيم کوونکي وويل چي امنيتي ملاحظې د دې سبب شوی دی چي دوي د کمپاين تاکتيکونه له لويو غونډو څخه کوچنيو مجلسونو ته اړولی دي. د ولايتي شوراګانو لپاره نوماندانو د پکتيا، پکتيکا، خوست، کندز، بغلان، لوګر، اوروزګان او کندهار په ولايتونو کې ويلی دی چي دوي د نامني له امله په ډيرو ولسواليو کې کمپاين نه شي کولای. خاصتاً ځيني نوماندانو د دې توان نه درلود چي په آزاده توګه مالي مرستي پيدا کړي، ځانګړی عمومي مجلسونه وکړی او يا پوسترونه او د ټاکنو نور مواد[10] وويشي. دا راپور شوی چي د طالبانو تر ولکې لاندې سيمو کې، د شمال ختيځو سيمو په ګډون د سياسي فعاليتونو سرته رسول ډير ګران دي. د مثال په ډول د هيواد په جنوبي ولايت زابل کې له مرکز، قلات څخه بهر هيڅ کمپاين نه دی شوی.

په ځینو سیمو کې د ولایتي شوراګانو نوماندانو امنیتي تدابیر نیولی دی او یا یې د هغو غوښتنه کړې ده. په شمال ختیځو سیمو کې پولیسو له نوماندانو څخه غوښتي دي چې د ساتنې لپاره خپلې وسلې ثبت کړي، ځکه چې پولیس دومره منابع نه لري چې ټولو نوماندانو ته امنیت چمتو کړي. په خوست کې، چارواکو د ولایتي شورا لپاره نهو نوماندانو ته د وسلې ساتلو جوازونه د دوي له تقاضا څخه وروسته ورکړي.

**نا امني او د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون**

نا امني دغه راز د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون په فعالیتونو باندې په ولایتي کچه زیات نفوذ درلودلی. په ګرځیدو باندې محدودیت له امله چې د نا امنۍ په وجه را پیدا شوی د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون نه شي کولای چې خلکو ته رسیدګي وکړي او هم شکایتونه واخلي. دغه وضعه په دې ولایتونو کې خاصتاً ښځې ډیرې متاثره کړې دي چې نه شي کولای ولایتي شکایتي کمیسیون ته لاسی رسی ولرې. په ځینو ولایتونو لکه لوګر او وردګ کې د ناامنۍ له امله د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون کارمندان دی ته هڅولی چې ډیر کم ځان په عام ډول څرګندې کړی. د دې په نتیجه کې د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون په باب خبرتیا او هغې ته لاس رسي محدود پاتې شوی او هم ورسره د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون توانمندي چې عدالت میسر کړي او د تاوان جبران وکړي محدود پاتې شوي.

**نا امني او د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د رایې اچونې حق**

ناامني د ځانګړی ډیرو افغانانو د هغه توانایی لپاره یو تهدید دی چې د رایې ورکونې له حق څخه استفاده وکړي. د ټاکنو خپلواک کمیسیون پلان لري چې د رایې اچونې مرکزونو ځای بدل او سره یو ځای کړي او په هغو سیمو کې یې سره نږدې کړي چې د نا امنۍ له امله لاس نه ورته رسیږي څو د ممکن ډیرو رایه اچوونکو لپاره آسانتیاوې پیدا شي. تمه کیږي چې د رایې ځیني مرکزونه به د لوژیستکي لاملونو له کبله بدل شي. د دې په نتیجه کې به که څه هم هدف دا دی چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون او رایه اچوونکو، مشاهده کوونکو او نوماندانو د استازو لپاره امنیت برابر شي، ډیر شمیر خلک ښایي چې په زیانمن شوی سیمو کې د ستونزو سره مخ شی چې په جسمانی لحاظ د رایې اچونې مرکز ته لاس رسی وکړی.

سره له دې د کمپاین په دوره کې د رایه اچوونکو د ثبت په باب د تازه معلوماتو په اړوند ستونزې لا همغسې پاتې وې. په ځینو سیمو کې د ثبتولو ګرځنده ټیمونه د ولسوالیو له مرکز څخه بهر تیار شوی وو چې هغو رایه اچوونکو ته فرصت ورکړي چې د رایه اچونې مرکزونو ته لاس رسی نلری. خو سره د دې هم شکایتونه رسیدلی چې د لاس رسی د محدودیت له کبله دغه هڅې ناکافی وی.[11]

دواړه د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام د ټاکنو (ایلیکټ) او د ټاکنو خپلواک کمیسیون له خوا د مدني روزنې او د رایه اچوونکو د روزنې لپاره تمویل شوی پروژې و نه توانیدلی چې ټول هیواد تر پوښښ لاندې ونیسي، ځکه چې امنیتی او د استخدامولو مسالې له امنیتي اندیښنو سره تړلې وې.[12] په ځینو سیمو لکه فراه چیرته چې مدني روزونکو نه شو کولای په آزاده توګه فعالیت وکړي، ښځینه مدني روزونکو له دودیزو مجلسونو لکه ودونو څخه استفاده وکړل او هلته یې ښځو ته د ټاکنو پاڼې او نور مواد وویشل. په نورو سیمو لکه د بغلان ولایت په ځینو برخو[13] کې د ټاکنو خپلواک کمیسیون مدني روزونکو د پوهاوی لپاره مواد د ټولنو د مشرانو په ذریعه وویشل، په داسې حال کې چې د دې ولایت په نورو برخو کې دغه کسان ونه توانیدل چې مواد وویشي او یا هغو سیمو ته ورشي. په مدني روزونکو باندې د محدودیت مانا دا ده چې رایه اچوونکي په نا امنه سیمو کې خپل د رایه اچونې له حقونو څخه یا دا چې څرنګه به رایه ورکړی خبر نه دي.[14] په دې سربیره امنیتی اندیښنې د ټاکنو خپلواک کمیسیون لپاره د رایې د مرکزونو او رایو د شمیرنې د مامورینو د استخدامولو په اړه هم ستونزې جوړوي لکه څنګه چې د پکتیکا ولایت په ډیرو ولسوالیو کې ولیدل شول.

**پایله**

په ټولیز ډول، سره له دې چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون هڅې کوي چې امنیتي خنډونه له منځه یوسي او د افغانستان حکومت او د افغانستان ملي امنیتي ځواکونه د نړیوالو ځواکونو په مرسته هڅې کوي چې امنیت ټینګ کړي، نا امني د هیواد په ډیرو برخو کې د ټاکنو او د مرستندویه ادارو وړتیا له منځه وړی ده چې د ټاکنو لپاره ټول لازم پلانونه ونیسي. نا امني دغه راز د نوماندانو وړتیا چې د ټاکنو لپاره ودریږي هم مخنیوی کړې دسی، او په ځانګړی ډول افغانان چې د کمپاین په دوره کی خپل د سیاسی حقونو څخه ګټه واخلي.

**IV. د اصولو او بشري حقونو رعايت**
دغه برخه د سياسی حقونو د وضعيت اورزونه چی د يوناما او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون د هغو معلوماتو چي د اګست تر اول پورې راغونډ شوی ځرګندوي. بی له هغون محدوديتونه به نا امنی پيدا کړی، څارني ښيې چې دری اصله او څلور حقونه په عموم ډول مراعات شوی دي. پيښي چي دغه حقونه او اصلونه نقض کوي تاييد شوی دی، البته يو ظاهره سيستماتيکي نموني نشته. څرنګه چی د کمپاين دوره پرمختګ کړی د نه ډارونی او بي طرفي د اصول سرغړونه زياتوالی موندلی چی د مشخص انديښني وړ دی.

په عموم ډول يوناما او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د راپور په موده کي ۱۴۷ شکايتونه اوريدلی دی برسيره پر دی د شريکانو سره د مذاکرو او مشورو.[15] هغه قضيي چي په راتلونکو برخو کي اشاره ورته شوې ده، چي خصوصاً لکه وروستنی ملاحظې، د هغو شکايتونو بيلګی دي چي ګډ ټيمونو توانيدلی وو چی ازميښت يی وکړی او جوتی کړی دي. د امنيتي لاملونو له امله او چي شکايت کوونکی او منابع وساتي ځينی قضيي چي لاندې ذکر شوی پيژندونکي مشخصات او ځانګړني نه لري.

**الف. نه ډارونه**
د نه ډاروني اصل د نوماندانو، د هغوي د پلويانو، د ټاکنو د شکايتونو د کميسيون او د ټاکنو د خپلواک کميسيون د کارمندانو له خوا په عموم ډول د کمپاين په دوران کي مراعات شوی دي (د مثال په ډول هغه کسان چي په مستقيم ډول د ټاکنو په پروسه کي شامل وو) په داسي حال کي چي د نه ډاروني د اصل څخه سرغړونه د هغو کسانو له خوا چي د ټاکنو په بهير کي شامل دي ښايي ټول راپور نه وی ورکړی شوی او نور راپورونه تاييد شوي نه دي، دغه نمونه ځرګندوي چي په ټاکنو کي شامل کسان ډارونه د کمپاين د يوه مرکزي تاکتيک په توګه نه کاروي.

د حکومت ضد عناصرو البته د ډاروني تاکتيکونه چي په ټاکنو کي د ګډون، خصوصاً د ښځو مخنيوی وکړي شديد کړی دي. تيليفوني تهديدونه (په ۴۷ جمله راپور شوی) پيښېږي او زياتيږي خو بريښي چي عموميت نه لري.[16] د دې په ځای د ډاروني قضيي چي ثابتي شوې دي داسي بريښي چي په انفرادي ټولنو، ولسواليو يا افرادو پورې محدودی دي.

**په ټاکنو پورې تړلي وژنی**
تر اوسه په ټاکنو پورې تړلي د وژني ۴ پيښي د کمپاين په موده کی رامنځ ته شوی. څيرنی ځرګندوي چي د چمتال د ولسوالي (بلخ ولايت) ولسوال، د ټاکنو خپلواک کميسيون د مدني روزني د ټيم او د ده ساتونکی د جولای په ۶ له دې امله وژل شوی چي د ټاکنو له پروسې سره يي تړاو درلود دغه شان د جولای په ۱۹ د دشت ارچي په ولسولی (کندز) کي د ولايتي شورا د خپلواک نوماند او د ده د ملګري تښتونه او وژنه معلوميږي چي له ټاکنو سره تړاو لري. البته د جولای په ۱۵ د نجراب په ولسوالی (کاپيسا) کي د ډاکټر عبدالله عبدالله د کمپاين د تنظيمونکي وژنه له ټاکنو سره تړاو لري او که نه لاځوابه پاتي ده خو داسي ګمان کيږي چي دغه پيښه د نوماندانو ترمنځ د سيالي سره تړاو ولری.[17] او د جولای په ۳۰ د ولسمشر کرزی د کمپاين په يوه نقليه وسيله د ليری څخه د کنترول کيدونکی تعبيه شوی چاوديدونکي وسيلي بريد کي څلور تنه په شمول د (د کرزی د ولسوالی د کمپاين مدير) د جوزجان د ولايت د آقچې په ولسوالی کي ووژل شول.

**د حکومت ضد عناصرو له خوا په ټاکنو پورې تړلي د وژني، تښتوني او تهديدوني هڅې**
د نه ډاروني د اصل ډيرې ښکاره سرغړونی د حکومت ضد عناصرو له خوا ترسره شوي دي. حکومت ضد عناصر د ټاکنو پروسه د نه ډاروني د اصل په ماتولو سره تهديدوي. د جولای په ۳۰ طالبانو د هيواد په کچه يو ګواښ خپور کړ چي دوی به د ټاکنو څخه يوه ورځ د مخه د رايه اچوني مرکزونه بند کړي. حکومت ضد عناصرو دغه راز د کمپاين په موده کي په تيت پرک ډول د وژني هڅې، بريدونه او تښتونی واقع شوی دی. دغه ډول پيښي په وروستنيو وختونو کي په شمال ختيځو برخو کي د نوماندانو په ضد زياتي شوي.[18] له شمال ختيځو برخو څخه پرته، په لوګر کي د جولای په ۱۲ د ولايتي شورا نوماند په مرمی پل علم ته په لار کي په زرغون ښار کي اوه ځله وويشتل شو. د حکومت ضد عناصرو لاس/دخل درلودلو باندې ګمان کيږي.[19] د جولای په ۳۱ د ولايتی شورا لپاره نوماند له پلويانو سره د درزاب په ولسوالی (جوزجان) کي وتښتول شو. لکه څنګه چي لاندې بحث باندی شوی ښځينه نوماندانې هم د حکومت ضد عناصرو ترهدف لاندې راغلی د حکومت ضد عناصرو د انتخاباتو د مستقل کميسيون کارکوونکی هم په نښه کړی دی. دوی د جغتو په ولسوالی (غزني) کي د ټاکنو د خپلواک کميسيون څلور تنه کارکوونکی وتښتول. دغه کسان د ملي پوليسو د کامیابه عملياتو په نتيجه کي خوشی شول. د اګست په لومړی ورځ د چک ولسوالی (ميدان وردک) د ساحی هم غړی کوونکی د حکومتي ضد عناصرو له خوا وتښتول شو.

د کمپاین د دوري د پای ته رسیدو سره د سیاسي مجلسونو په وړاندې تهدیدونه او بریدونه ښکاری چی مخ په زیاتیدو دی. د دې ثبوت په ننګرهار او لغمان کې په وروستیو وختونو کې د کمپاین په مجلسونو او د دوي په پلویانو برسدونه دی.[20] دا جوته نه ده چې ایا دغه بریدونه حکومت ضد عناصرو سره تړاو لری او که سیالانو یو د بل په ضد کړی دی.

په یو شمیر سیمو کې (نورستان او کنړ) حکومت ضد عناصر د راډیو په ذریعه او په (کابل او لوګر) کې د تیت شوو پاڼو په ذریعه د نوماندانو، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د کارمندانو او هغو کسانو پر ضد تهدیدونه لیږي چې په ټاکنو کې برخه اخلي. د مثال په ډول د طالبانو د "شریعت غږ" راډیو د برګ مثال د ساحې په قلګه سیمه کې چې د نورستان یوه ولسوالی ده[21] داسي تهدیدونه خپروی چي هغه کسان چي په ټاکنو کې برخه اخلي له سختو عواقبو سره مخامخ شي. د راپورونو له مخې په کابل او لوګر کی د حکومت ضد عناصرو د ټاکنو د خپلواک کمیسیون کارکوونکی په ټول لوګر کې تهدید کړی دي.[22] راپورنه وایې چې د لوګر، کاپیسا، پروان او وردګ د ولایتونو په نا امنو سیمو کې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون کارکوونکی په ډیر احتیاط سره کار کوي. په لوګر او وردګ ولایتونو کې نوماندان د حکومت ضد عناصرو له خوا د دوي د نوماندي په اړه تهدیدي لکیونه تر لاسه کوي. د ځینو تهدیدونو مخنیوی ممکن دی. د پکتیا ولایت د شرنې په ولسوالی کې قومي مشرانو له طالبانو سره مذاکرې وکړې چې د شرنې د ولسوالي تنظیم کوونکې وکولای شي خپل کار ته ادامه ورکړي. وروسته له هغه طالبانو د ده نه غوښتي و چې استعفا ورکړي. بیا هم دغه ډول پیښې استثنات دی.

په ځینو مواردو کې دغو تهدیدونو خپله اغیزه کړې ده او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون کارمندان، نوماندان یا د کمپاین کارمندان یې استعفا ته اړ کړي دي. د جولای په ۸ ولایتي شورا ته یوه نوماند په وردګ ولایت کې خپل کمپاین هغه مهال ودراوه کله چې د راپور له مخې هغه ته له حکومت ضد عناصرو له خوا تیلفوني تهدیدونه وشول. دغه شان په لوګر ولایت کې له ښځو نوماندانو سره هم وشوه. [23] په غزنی، پکتیا، خوست او لوګر کی د ټاکنو خپلواک کمیسیون کارکوونکو هم ښایی د دغو ګواښونو له مخی استعفا ورکړی وی.

په ټولیز ډول په داسي حال کې چې داسي پیښې په نسبي ډول کمې دي خو بیا هم د عمومي نا آرامي له احساس سره مرسته کوي او ښایي چې افغانان د ټاکنو په بهیر کې له ګډون کولو څخه منع کړي. باید وویل شي، لکه څنګه چې په V برخه کې بحث وربانڈی شوی دی، چې د ښځو په وړاندې د زیاتیدونکو او له اندیښنې وړ تهدیدونو تمایل شته.

**ب: بی طرفي[24]**

سره له دې چې د عمومي سر منشي ځانګړی استازی کای آیده او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون مشرې ډاکټر سیما ثمر د جولای په ۷ نیټه مطبوعاتي کنفرانس کې او په وروستیو عمومي بیانیو کې غوښتنه کړې ده چې د بېطرفی اصل دی وسائل شي خو بیا هم د دې اصل څخه سرغړوني دوام لري.[25] دغه سرغړوني دغه راز د جمهوري ریاست له ۱۳۸۸ (۲۰۰۹) فرمان څخه هم سرغړونه دی چې د ټاکنو په چارو کې د عدم مداخلې په اړه صادر شوی و.

**د حکومتي چارواکو طرفداري**

د دولتي او محلي چارواکو له خوا د طرف نیولو په باب راپورونه رارسیږي. څرنګه چې د جمهوري ریاست د فرمان په ذریعه چې د نه مداخلې په باب صادر شوی او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د ټاکنو د قواعدو له خوا منع شوی خو بیا هم د حکومتي منابعو څخه د ناوړی استفادی په ګډون د ملکی خبري رسنیو[26] او د حکومتي موقف څخه د مشخص نوماند لپاره د کمپاین څخه ناوړه ګټه اخیستل مشاهده شوي دي.[27] د پولیسو د ځینو قوماندانانو ګوښه کول او بدلول دغه نظریه ورکوی چې ګواکی دغه سیاسي انګیزې موجودې وي.[28]

د بی طرفی د اصل څخه سرغړونه د ځینو نوماندانو لپاره د امنیتی ساتنه ورکول او ځینو ته له هغه څخه انکار کول[29] او د جمهوري ریاست د ټاکنو لپاره کمپاین کول او په عین وخت کې په حکومتي څوکیو باندې پاتې کیدل.[30] په ځنیو مواردو کې حکومتي چاروا کو محلي خلک هڅولی دی چې د کمپاین لپاره په مجلسونو کې ونډه واخلي.[31] ځینی راپورونه رارسیدلی دی چې حکومتي منابع لکه موټرونه د دې لپاره کارول شوی دي چې د کمپاین پیښې تنظیم یا حمایه کړي.[32] په نورو مواردو کې له حکومتي چارواکو څخه استفاده شوې ده چې د ځینو نوماندانو تصویرونه ځوړند کړي او د ځینو نورو نوماندانو پوسترونه څیرې کړي[33] یا د مشخصو نوماندانو تصویرونه په حکومتي ودانیو ولګوي.[34] د بی طرفی د اصل څخه سرغړوني د خبري رسنیو په ګډون داسي برېښي چې د ولسمشر حامد کرزی په ګټه وي که څه هم د حکومتي چاروا کو ټولې مداخلې د یو مشخص نوماند په ګټه نه دي.[35] دغه سرغړوني ښایي ځینو نوماندانو ته زیان ورسوي. حکومت د دغو سرغړونو د مخنیو

لپاره ډېر څه نه دي کړي. د دې سرغړونو زغمل ښايي د هغو نوماندانو توانايي چې د څوکۍ لپاره ودرېږي او رسمي څوکۍ و نه لري کمه کړي او د ده پلويان د ډاروني له خطر سره مخامخ شي.

**د ټاکنود خپلواک کميسيون طرفداری**

په عمومي ډول د ټاکنو خپلواک کميسيون او د هغه کارمندان ښکاری چې د بې طرفی د اصل درناوی کوي. داسي راپورنه شته چي د ټاکنو د خپلواک کميسيون چارواکي له مداخلو سره مقاومت کوي. د مثال په ډول يوناما خبر تر لاسه کړی چي په نورستان کې د ټاکنو د خپلواک کميسيون چارواکو د والی له هغو هڅو سره مقاومت ښکاره کړی چي غوښتل يي د ټاکنو لپاره د کارمندانو په استخدامولو کې مداخله وکړي. په حقيقت کې يوناما او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون فقط يو څو قضيي په دې اړه تر لاسه کړي چي د ټاکنو د خپلواک کميسيون د چارواکو طرفداري ښيي.[36] خو بې ځايه نه ده چې فکر وکړو ښايي د رايو د مرکزونو او شميرني لپاره د زرهاوو کارمندانو له استخدامولو سره د ټاکنو د خپلواک کميسيون د کارمندانو په وړاندې د طرفداري په اړونده تورونه زيات شي. د ټاکنو په خپلواک کميسيون کې بايد داسي ميکانيزمونه موجود وي چې د داسي شکايتونو جبران وکولای شي او انديښني رفع کړي.

**ج. نه تبعيض**

د نوموني په دوره کې ډېرې سرغړوني د ښځو په وړاندې وي او په V برخه کې د "د کمپاين په دوره کې د ښځو وضعه" تر عنوان لاندې وربانديې بحث شوی دی. د کمپاين په دوره کې داسي قضيه نه ده تاييد شوې چې د قوميت، مذهب يا بل موقف پر بنياد تبعيض په کې موجود وي. دا د دې مانا نه لري چې دغه ډول تبعيضونه نه رامنځ ته کيږي، خو يوازی د هغو په باب راپورونه دي ورکړی شوي. دا خبره هم د يادولو وړ ده چې د دې اصل نقض او سرغړونه ښايي په هغه وخت کې ډېره وليدل شي چې کله د رايي اچوني مرکزونه فعال شي او رايي شميرنه پيل شي.

**د. د بيان آزادي**

د بيان په آزادۍ کې د عقيدو او نظرياتو درلودل او انتقالول (د ټاکنو په شرايطو کې د يوه نوماند يا ګوند لپاره کمپاين کول يا له هغو ملاتړ کول) او دغه راز په برابره توګه خبري رسنيو ته لاس رسي شامليږي. په ډيرو خوندي سيمو د افغانستان کې لکه د کابل، مزار او هرات په ښارونو کې عمومي او عام مجلسونه ډېر عموميت لري او ځرګندوي چي نوماندان او د هغوي پلويان د ډاډ احساس کوي چې خپل نظريات په ازادانه توګه ځرګند کړي. د هيواد په زياتره برخو کې پوسترونه ليدل کيږي که څه هم داسي شکايتونه شته چي پوسترونه خراب شوي دی. د ولسمشرۍ لپاره د نوماندانو په منځ کې په تلويزيون او ميډيا کې تودې عمومي مباحثي رواني دي.

**نا امني او د بيان آزادي**

د هيواد په نا امنه سيمو کې نا امني او له هغو سره د حکومت ضد عناصرو له خوا ډاروني د کانديدانو د پلويانو لپاره د دې امکانات کم کړی چي په آزادانه توګه خپل نظريات ځرګند کړي. په دې لړ کې که څه د نظرياتو په باب بحث کول وي او يا د ټاکنو له پروسي سره مرسته کول وي يا د يوه مشخص نوماند سره ملاتړ کول وي چي په عمومي خصوصي مجلسونو کې سرته رسيږي، يو ډول حيثيت لري. د مثال په ډول، تر اوسه پورې داسي کوم عمومي او عام مجلس په جنوب شرق کې نه دی شوی. د شرق په ډېرو برخو (لغمان، کنړ، ننګرهار) کې عمومي مجلسونه بندی شوي دي. په نا امنو سيمو کې ملاتړي په ځينو وختونو کې له دې څخه د انتقام د ويرې له امله منع شوی دي چې د ټاکنو له بهير سره يا د يوه مشخص نوماند سره ملاتړ ځرګند کړي. د راپورونو له مخې د ښځينه نوماندي پلويان د ملک په غربي سيمو (هرات، بادغيس، فراه او غور) کې د عمومي غونډو او ملاتړ ځرګندول مخه نيول شوی. د حکومت ضد عناصرو د تهديدونو له امله ډارول شوي دي چې په داسي فعاليتونو کې برخه وا نه اخلي دغه ويره بې بنسټه نه ده. د کندز او ګاونډوی ولايت بغلان په تيرو دوو مياشتو کې په نوماندانو باندې د ډېرو بريدونو شاهد وو.[37]

د نا امنی له کبله په ګرځيدو باندې محدوديت هم (په لاندې برخه کې پرې بحث شوي) د نوماندانو توانايي محدودوي (د خپلو نظرياتو انتقالول) چي خپل نظريات او کرنلارې بيان کړي. ځکه دوی نه شي کولای چي د خپلي رايي په حوزو کې کمپاين وکړي. د مثال په ډول نوماندان نه شي کولای چي د کاپيسا ولايت د تګاب په ولسوالی او د وردک ولايت چک، سيد اباد او جغتو ولسواليو کې يا د کندهار يا زرنج (نيمروز) کې په ازادانه ډول کمپاين وکړي او يا پوسترونه ولګوی. په کندز کې د ولايتي شورا دوو نوماندانو وويل چي د امام صاحب د ولسوالي ۵۰ په سلو کې او د خان آباد د ولسوالی نږدې ۲۰ په سلو کې د دوي لپاره ډيرې خطرناکې دي چې مجلسونه وکړي او يا له رايه اچوونکو سره ووينې. سره ددې هم، لکه څنګه چې د

لاندې توضیح شوې ده، نوماندان کله کله په نا امنه سیمو کې هم مجلسونه دایروي. په مجموعي ډول د نوماندانو او د دوی د پلویانو د بیان ازادي او د سیاسي حمایت ازادي په نا امنه یا په ډیرو نا امنه سیمو کې سخته کمزوری شوې ده.

**خبري رسنیو ته لاس رسي**

خبری رسنیو ته لاس رسي، که په ملی یا په محلی سطحه وي، د ټولو نوماندانو لپاره زښت زیات اهمیت لري او خاصتاً د هغو لپاره چې انتخاباتي حوزې یې نا امنه سیمو ته غځیدلي دي او یا په لیرې پرتو سیمو کې دي چې ورتګ ورته ډیر ګران وي. په افغانستان کې خبري رسنی رنګا رنګ دي، په دې کې دولتي تلویزیون، خصوصي رسنی، دغه راز ولایتي، محلي او ملي خبري رسنی شاملیږي. رسنی د کمپاین په دوران کې د عامو خلکو لپاره یوه ژوندی مباحثې دایری کړي. نالوستي نه لاس رسي او لیري والی نور هم د راډیو تلویزیون سره د نوماندانو نږدې والی ته ارزښت ورکړي. نا امني په عمومي ډول رسنی ته د نوماندانو لاس رسي نه دي اغیزمنه کړي. یوازې یوه داسې ثبت شوې قضیه (غزنی ولایت) شته چې د حکومت ضد عناصرو د تهدیدونو په نتیجه کی خپرونې بندې شوې دي.[38]

په ټول افغانستان کې د ولایتي شوراګانو د نوماندو لاس رسي خبري رسنیو ته د قناعت وړ دی او راډیو د کمپاین لپاره تر ټولو غوره وسیله ګڼل شوې ده.[39] چې له انفرادي پیښو داسې نه بریښي چې نا امني د ولایتي شورا لپاره د نوماندانو لاس رسي خبري رسنو ته متاثره کړی وي. په حقیقت کې میډیا د ولایتي شوراګانو لپاره نوماندان دې ته هڅوي چې د دوی له خدمتونو څخه استفاده وکړي. په شرقي سیمه کې دولتي او د خصوصي رسنی سازمانونو د ولایتي شورا ټولو کاندیدانو ته د تلویزیون له لارې وخت تعین کړی و چې پیغامونه ورسوي. په بل مثال کې د ګردیز آر تی ای هر ولایتي کاندید ته پنځه دقیقې وخت برابر کړی و. د پکتیا غږ راډیو هر یوه نوماند ته ۳۰ دقیقې وخت ورکړی او په هره اونی کې یې دوه ځلې د ګردې میز مباحثې خپرې کړې دي. ددې په پرتله تلویزیوني خپرونو ته لاس رسي په دې دلیل محدود و چې نه میډیا او نه نوماندان د هغو قوانینو، قواعدو او فرصتونو څخه خبر وو چې تلویزون یې کولای شي د تلویزیونی اعلانونو په څیر نوماندانو ته میسر کړي.[40] په ځینې برخو کې لکه شمال شرقی میډیا په عام ډول د ولایتي شوراګانو لپاره سیالی نه دي خپرې کړی بلکه د دې په ځای یې په ولسمشریزو ټاکنو باندې زور اچولی دی.

د ولسمشریزو ټاکنو د کاندیدانو لپاره رسنی ته نا برابره لاس رسي د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د رسنی د کمیسیون لپاره لویه ثبت شوی اندیښنه ده او د دې پایلې دا ده چې دولتي خبري رسنیو ته د برابری لاس رسی څخه انکار کوی.[41] د ملی راډیو تلویزیون له خوا د ولسمشریزو ټاکنو پوښښ یوه لویه اندیښنه جوړه کړې وه. د هیواد په کچه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د خبری رسنی کمیسیون راپور ورکړی دی چې د آر تی ای پوښښ د حامد کرزی[42] په ګټه کار کړی دی. په ولایتی کچه یوازې په انفرادي قضیو کې دغه ډول نا انډولی د کاندیدانو په اړه لیدلی شوې ده چې آر تی ای خپرې کړی دی، له هغې جملې څخه یوه قضیه په بغلان، یوه په پروان او بله په بدخشان[43] کې وه. خصوصي میډیا له حامد کرزی څخه په غیر د نورو نوماندانو په خدمت کې زیاتې وي. دا هغه میډیا وي چې د نوماندانو د ملاتړو له خوا پر مخ بیول کیږي او یا یې هغوي څښتنان دي.

**ز: د خوځښت، سوله ییزو غونډو او د انجمن جوړولو آزادی**

د کمپاین په موده کې د فعالیتونو د خصوصیت او ځانګړتیا له امله د خوځښت، سوله ییزو غونډو او د انجمن جوړولو آزادی وضعیت د نوم لیکنی د مودې په پرتله او په ځانګړې ډول د ټاکنو په دوران کې د نا امنی د اغیزی له امله د دغو حقونو څخه د ګټې اخیستل زیات روښانه او واضح وو.

څرنګه چې پورته بحث شول، امنیتی وضعی د خوځښت، سوله ییزو غونډو او د انجمن جوړولو پر آزادی باندې ستره محدودکوونکي اغیزه درلوده، په هغو سیمو کې چې دولتی ضد عناصر موجود وو، د حکومت د کارکوونکو او د هغه د ملاتړ کوونکو پر ضد د دولتی ضد عناصرو بریدونه او ګواښونه د دې لامل شو چې خلک په عمومی ډول په سیاسی لاریونونو کې د ګډون څخه بیزاره شی. حتی په نسبی ډول آرامو سیمو کې هم خلک د ټولټاکنو سره د یو ځای کیدو لپاره بې علاقې وو. داسې ښکاری چې دغه بې علاقه ګي د دولتی ضد عناصرو د تهدیدونکو اعمالو لکه د وژلو او یا بریدونو د هڅو له امله وي. په نتیجه کې نوماندانو په زیاتو ناامنو او یا په نسبی ډول امن سیمو کې خپل د کمپاین تاکتیکونه بدل کړل. ځینی نوماندانو د سترو غونډو پر ځای پر وړو غونډو، انفرادی ناستو اکتفا وکړه او د رایو د راجلبولو لپاره یې د کور په کور ملاقاتونه زیات کړل. له بلې خوا ځینی نوماندانو په نا امنو سیمو کې هیڅ کمپاین و نه کړ خو په عوض کې، څرنګه چې په غزنی کې وشول، خپل پوسترونه په ولسوالي کی د خپلو اړیکو کسانو ته واستول چې دوې یې وویشی.

د دغی عمومی وضعی په نظرکي نيولو سره، د تيرو ټولټاکنو په پر تله چې په هغه کې د ولايتونو په سطحه د سترو غونډو جوړول عمومی بڼه درلوده، د دي حقونو ځانګړي تخلفات او تخطيګانی نه دي رامنځ ته شوي.[44]

خو سربيره پر دی هم په دغه محدوده شوي فضا کي د ولسمشريزو کانديدانو لپاره ستر لاريونونه تر سره شول، پوسترونه وويشل شول او دواړو، د ولسمشريزو او ولايتی شوراګانو کانديدانو په هغو سيمو کي چي امکان درلود عامه کمپاينونه لاری ته واچول. د ساری په ډول یوازی د جولای د مياشتی په ۲۶ نيټه يو شمير لاريونونه چي په هغو کې د سلو څخه بيا تر څو زرو کسانو ګډون درلود، د ولسمشريزو کانديدانو په پلوي د کندز، پروان، کندهار، او هرات ولايتونو په امن سيمو کي لاری ته واچول شول.[45] تمه کيږی چي دا ډول فعاليتونه د ټولټاکنو په نږدی کيدو سره لا هم زيات شي.

**د خوځښت محدوده آزادی**

د کمپاين په دغه محدوده شوی فضا کي په ټولټاکنو کي د برخه والو له خوا د خوځښت او د کمپاين د حقوقو څخه تخلفات او تخطيګانی تر سره شوي دي. د ساري په ډول د جون د مياشي په ۲۲ نيټه د لغمان ولايت د علينګار ولسوالی کابو ۶۰۰ تنه ملاترکوونکي چي د مهترلام په ښار کي راټول شوی وو او غوښتل يې چي د حامد کرزي په ملاتړ په يوه لاريون کي ګډون وکړي، دګډون څخه منع کړای شول او تر هغه مهاله يوي بلی سيمی ته واستول شول چي مشران وکولای شول دوي خلاص کړي. داسی ګمان کيږي چي يوي رقيبي خوا به دغه کار کړي وي. د ۲۰۰۹ کال د جولای د مياشتی په ۲۰ نيټه د ډاکټر عبدالله او حامد کرزي د ملاتړ کوونکو تر منځ د شخړي په پايله کي چي د بدخشان ولايت د ريګستان ولسوالی د بامستان راه په کلي کي پيښه شوه، د ډاکټر عبدالله يو ملاتړي ووژل شو.

د انجمن جوړولو او خوځښت محدوديت (که د ټولټاکنو د کارکوونکواو يا هم په ټولټاکنو کي د ګډون کوونکو په اړوند دی) چي د دولتی ضد عناصرو د فعاليتونو او د نه تهديد د اصل د ماتولو له امله منځته راغلی، د دی لامل ګرځيدلی چي د ټولټاکنو د خپلواک کميسيون ځينی کارکوونکی و نه کولای شی د رايی ورکولو د مرکزونو موقعيت وارزوي او خپل فعاليتونه تر سره کړي کوم چي د کمپاين په موده کي د مدنی روزنکو د پروګرامونو لپاره ډير هم دي. د دغه محدوديت يوه جدي پايله د رايه ورکولو د مرکزونو د ارقام په هکله چي څومره به خلاص وی بی اطمينانی رامنځ ته کړی. د ولايتی ټولټاکنو کميسيونونه هم د دغه محدوديت څخه اغيزمن شوي او نه دي توانيدلی چي پوهاوي زيات کړي او په ځينو وختونو کي د خپلو دندو پر بنسټ تحقيقات تر سره کړي.

**س: د حقونو او اصولو په اړه عمومی نتيجه ګيرئ**

امنيتی وضعي په زياتره سيمو کي د ټولټاکنو پر پروسه اغيزه کړي او داسی اندیښنی يې پيدا کړي چي د ګواښ سره تړاو لري او د نوماندانو او د هغوی د پلويانو پر ځواک باندی اغيزه کړی چي کمپاين وکړي، او د ټولټاکنو کارکوونی و نه کړای شی د رايه ورکولو لپاره تيارئ ونيسی، د ټولټاکنو د شکايتونو کميسيون و نه کړای شی شکايتونه تر لاسه او هغه و څيړي. د کمپاين په دغه موجوده فضا کي په عمومی ډول حقونه او اصول مراعات شوي دي که څه هم ګواښ او تر لږ حده پوري، پريتوب (طرفداری) دوامداره اندیښنه ده، په ځانګړي ډول هغه مهال چي کمپاين خپل پای ته نږدی کيږي.

**V. د کمپاين په موده کي د ښځو وضعيت**

د ولايتی شوراګانو لپاره د ښځينه نوماندانو د سيټونو شمير او ولايتی شوراګانو د ټولو نوماندانو په مجموعی شمېرکي ۱۰ فيصده (۳۲۷) دي چي د تير ولايتی شوراګانو د نوماندانو په پرتله ۲۰ فيصده زياتوالی ښيی. په داسی حال کي چي دا يو مخ په وړاندي او هڅوونکی ګام ګڼل کيږی، دوديز محدوديتونه او نا امنی د ښځينه نوماندانو ځواکمنتيا محدوده کړي چي د نوماند او يا ملاتړي په ډول کمپاين، د ټولټاکنو د کميسيون سره کار او يا هم شکايتونه درج کړي.[46]

**الف: کمپاينکول/د څوکی لپاره دريدل**

په داسی حال کي چي زياتره ښځو په کمپاين کي فعاله برخه اخيستی ده، هغه خندونه چي دوي د کمپاين په دوران کي ورسره مخامخ شوي دي، دوي ته دا ستونزمنه کړی چي وکولاي شی په مستقيم او کره ډول د نارينه نوماندانو سره سيالی وکړي.

زياتره افغانی ښځی د دوديزو نورمونو له امله د خوځښت د آزادی د محدوديت سره مخامخ شوي دي. د جګړو څخه په متاثره شويو سيمو کي د ولايتی شوراګانو ښځينه نوماندانو ريپورټ ورکړي چي بد امنی د دوي خوځښت لا پسی محدود

کړی دی.[47] په داسې حال کې چې د کورنيو چارو وزارت يو دايرکتيف صادر کړي او د ولايتي شوراګانو ښځينه نوماندانو ته د يو ثبت شوي ساتونکي اجازه وکړی، خو رپورټونه ښيي چې دغه دايرکتيف په ولايتي سطحه کې نه دي پلې شوي. په حقيقت کې د هرات ولايت د ولايتي شورا نوماندانی شکايت ثبت کړي چې کوم ساتونکي چې دوي ته توظيف شوي وو، بيرته اخيستل شوي دي.

د ياد وړ ده چې د کندهار ولايت د ولايتي شورا له دريو تنو نوماندانو څخه هيڅ يو هم د امنيتي ګواښونو له امله د کندهار په ولايت کې ژوند نه کوي او همدارنګه هيڅ يوه يې هم د ولايت په سطحه کمپاين ندي کړي. د وژنی ګواښونه چې د شمال شرقي ولايتونو ښځينه نوماندانو ته ورکړي شوي وي د دی لامل شول چې د دوي د کمپاين محدوده شوي فضا لا پسی محدوده شی. په شرقي ولايتونو کې د ښځينه نوماندانو پوسترونه ليري کړاي شوي او په نورو سيمو کې د دوي څيری بد رنګه کړاي شوي دي. د کابل ولايت د ښځينه نوماندی دفتر د جولای په ۲۷ نيټه رنګ شوي. د جولای په ۳۰ نيټه د تخار ولايت د ښځينه نوماندی د ګاونډ پر کور شب نامی لګول شوي چې په هغې کې دغه ښځنيه نوماندی ته ګواښ شوي چې کمپاين پريږدی او يا پايلی ومنی. د اګست په لومړی نيټه د هغې پر کور د شپې له خوا ډزی وشوي.

د امنيت څخه پرته دوديزو خنډونو هم د ښځينه کانديدانو پر ځواک باندي اغيزه کړي چې د خپل نوماندی په ټوله حوزه کې، په ځانګړي ډول په سهيل، سهيل ختيز او مرکزی سيمو کې، کمپاين وکړي. زياتره ښځې په سخت دريزه سيمو کې، نه شی کولای چې د خپل کور د چاپيريال څخه بهر وخوځيږی او په عمومي ډول د کور په کور رايه اخيستلو او نور ابتکاری ميتودونو لکه د عکسونو پر ځاي د بزنسز کارډونو ويشل، په شخصي ډلو او يا هم په ښوونځيو کې کمپاين کولو پوری محدودي وي. د هرات ولايت ښځينه نوماندانو رپوټ ورکړي چې دوي په ولايت کې دننه اړ شوي چې چادری په سر کړي او د دوي زيات شمېر دا ويلی چې دوي نه دي توانيدلی چې د کمپاين لپاره ولسواليو ته سفر وکړي. په همدي ډول ښځينه نوماندانی په دی نه دي توانيدلی چې ستر لاريونونه لاري ته واچوي او حتی په ځينو وختونو کې نه دي توانيدلی له چاپ شوي رسنيو، راډيو او يا تلويزيون څخه ګټه واخلی. د شرقي حوزي په زياتره سيمو کې د ښځينه نوماندانو پوسترونه ليری کړای شوي. پايتخت ته نږدی د پروان ولايت په ځينو سيمو کې پر ښځينه پوسترونو باندي رنګ پاشل شوی دي. د جوزجان ولايت د ولايتي شورا يوي ښځينه نوماندي دا توضيح کړه چې هغې نه شی کولای پوسترونه چاپ کړي ځکه چې دا نا مناسبه ګڼل کيږي چې د ښځې عکس د نارينه وو د عکس سره څنګ په څنګ ونښلول شی.[48]

ځينی ښځينه نوماندانو د دوي د نوماندي په اړه د ټولنی د خنډونو سره هم مخامخ شوي دي.د ټولنو مشران او ملايان، د ساری په ډول د هرات ولايت د کرخ په ولسوالی، د سرپل ولايت د سيد په ولسوالی، د لغمان ولايت د عليڼګار په ولسوالی کې خلکو ته ويلي چې ښځينه نوماندانو ته رايه ورنکړي، او يا يې ويلی چې ښځې د څوکی لپاره د دريدلو حق نه لري. په حقيقت کې د بغلان، کندز، تخار او غزنی ولايتونو کې، د ولايتي شورا ښځينه نوماندانی، د نورو سره يو ځای، د ځينو ګواښونو قربانيانی شوي او د دوي څخه غوښتل شوي چې کمپاين بند کړي. د هرات په ولايت کې د ولايتي شورا نومانده پس له هغه د خپلې نوماندي څخه لاس په سر شوه چې ګواښونه يې تر لاسه کړل. تر دم ګړي دغه مثال په ټول افغانستان کې يو شانته نه دی. د ښځو د کمپاين ځواک ډير زيات يو له بله سره توپير لري.[49] د پنجشير په ولايت کې ۷ تنه ښځينه نوماندانی په آزاد ډول په کليو کې کمپاين کوي، غونډی او لاريونونه جوړوي، رسنيو څخه ګټه اخلي او د هغوي پوسترونه په ټول ولايت کې تر سترګو کيږي. ډاکټر فروزان د ولسمشريزی د دوو تنو ښځينه نوماندانو څخه يوه ده چې جون او جولای په مياشتو کې په کابل کې څو ځله لاريونونه تر سره کړل. ښځې توانيدلي دي چې د ولسمشريزو نوماندانو په لاريونونو کې، حتی په ناامنو سيمو لکه قلات، ترينکوټ او قندهار کې هم ګډون وکړي.[50]

برسيره پر دي، ښځينه نوماندانی د خپل کمپاين د فعاليتونو لپاره لږو پيسو ته لاس رسی لري. په عمومي ډول دغه خنډ په ټولنه او کورنی کې د ښځو د ټيټ مقام څخه سرچينه اخلي، چې د ښځينه کانديدانو له خوا په موافق ډول د دوي د کمپاين تر ټولو ستر خنډ رابرسيره شوی دی.[51] د شبکو نشتوالی، جايداد ته نه لاسرسی، د مالي وجهو د موندلو د ميتودونو نشتوالی، د نارينه ملاتړ او د دوي د کورنيو د غړو په ارادي او بودجه باندي اتکا ټوله، ښځي دواړه د نوماندي او يا هم د ملاتړ کوونکي په ډول په يوه نامساعده او بی ګټې وضعيت کې اچوي، چې په پايله کې يو زيات شمير ښځينه کانديدانی په دي نه دي توانيدلی چې د رسنيو کمپاين، پوسترونه او د کمپاين نور فعاليتونه تمويل کړي چې دا په کابل، پروان، تخار[52] په ټول سهيل او لويديزی حوزی (هرات، غور، بادغيس، فراه، کندهار، اورزګان او زابل) او نورو ولايتونو کې د ښځينه کانديدانو لپاره يو شانته دی.[53]

د دواړو په ګډون، ښځې په عمومي ډول يوازی کولای شی د ښځو په منځ کې کمپاين وکړي مګر دا چې د هغوي سره د کورنی غړي او يا هم د قدرت حاميان ملاتړ وي. د سهميي او برخی سيستم، چيرته چې اړتيا وي، دغه بالقوه ميلان لا پسی

زیاتوي. نو کله چې ښځې توانیدلي چې ځان کاندید کړي، هغه خنډونه چې دوي تر هغو لاندي خپل فعالیتونه تر سره کوي، د هغوي سیاسی حقونه محدودوي او د دوي هڅې او کوښښونه چې باید د یو نارینه نوماند په مقابل کې سیالي وګټی، شنډوي.

**ب د رایه ورکولو د حق تامنیول او کارول**

د کمپاین کولو په موده کې ښځې په هغه مشابه محدوده فضا کې فعالیت کوي کوم چې دوي د ثبتولو په دوران کې ورسره مخامخ شوي. د ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کلونو د ثبت د ټولټال شمېر (۴۴۴۹۳۳۲) کسانو څخه یوازی ۳۹ په سلو کې (۱۸۳۸۵۰۱) تنی ښځې وي.[54]

یو خنډ هم د پوهاوي د سطحی ټیټوالی دی. څرنګه چې پورته یاده شوه د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون، مدنی او رایه ورکوونکو روزونکو د امنیتی مسالو له امله حتمی ټولو ښځو ته لاسرسی نه دی موندلی. د ساري په ډول د ټولټاکنو د خپلواک کمیسیون ښځینه مدنی روزنکي نه دي توانیدلي چې د ولایت او ولسوالی مرکز څخه بهر لاسرسی ولري دغه ډول ولایتونه خوست، غزنی او نور ولایتونه دي، حتی که په کافی اندازه امن هم وي. د فراه په ولایت کې د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون د کارکوونکو د ګمارلو د خنډونو په هکله شکایت کړي او دی ته اړ شوي چې د ښځینه مدنی روزنکو سره یو ځای یو تن د هغو خپلوان او محرم هم په کار وګماري. په هغه سیمو کې چې ښځینه مدنی روزونکي په کافی اندازه نه دي موندل شوي، لیریو پرتو ښځو ته لاسرسی لا هم محدود شوي دي. نو ځکه دا امکان شته چې ښځې د نارینو په پرتله د خپلو حقونو او یا هم رایی ورکولو د پروسي څخه ښې پوه او با خبره نه وي.

یو بل خنډ د ثبت او د رایه ورکولو مرکزونو ته لاس رسی ده. څرنګه چې د افغانستان د آزادو او شفافو ټاکنو ټولنی او نورو موسساتو یاده کړي، د ټولنو د محدودیتونو، امنیتی اندیښنو او د خوځښت د آزادی د محدودیت له امله (د ثبت مرکزونه د ولسوالی په مرکز کې واقع وو) ښځو د ثبت مرکزونو ته کافی لاسرسی نه دی درلود. د ساري په ډول د زادران او چشمه میان کلي چې د تخار ولایت د شکاشم په ولسوالی کې واقع دي او همدارګه د تخار ولایت د تالقان ولسوالی د ګلبار په کلي کې ښځو ته اجازه نه ده ورکړ شوي چې نومونه ثبت کړي. ورته پیښی په نورو ځایونو کې هم واقع شوي چې د رایه ورکولو په روځ کې د ښځو ګډون تر پوښتنې لاندي راوړی.

د رایه ورکوونکو د تلاشی او همدارنګه د رایه اچولو او شمېرلو لپاره د ښځینه کارکوونکو په کار ګمارل هم هغه خنډ دي چې د رایه ورکولو په ورځ کې د ښځو د رای ورتیا نوره هم کمزوری کوي. که چېری د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون ښځینه کارکوونکي و نه مونديِ، نو داسی پلان لري چې ملکی تقاعد شوي کسان او یا هم سپینږیری نارینه په کار وګماری چې په دا ډول د رایه ورکولو د مرکزونو کارکوونکی پوره کړي. د لاسرسی د مسالی په ګډون د رایه ورکولو د مرکزونو د ځای او شمیره د مسالی سره یو ځای، په نا امنو سیمو کې د ښځو د رایی ورکولو حق به د سترو ګواښونو سره مخامخ کړي.

د خوځښت پر آزادی باندی د دودیزو محدودیتونو په نظر کې نیولو سره، د سیاسی حقونو د ناکافی پوهاوي، د ښځو سمه رایه ورکول، زیانمنوي. د کورنی د نارنیه په واسطه د وکیل او یا استازي په ډول رایه ورکول هم په تیرو ټولټاکنو کې یوه مساله وه او ممکنه ده دا ځل بیا هم یوه مساله شی. د وکیل او یا استازی رایه ورکول داسی نه ده واقع شوي چې یو کس د بل چا د ثبت کارډ له ځانه سره ولري، بلکی دا د رایه ورکولو د مرکز د کارکوونکو د درغلی له امله رامنځته کیږي، د ساري په ډول دوي د رایه ورکوونکي د ګوتی رنګ د پامه غورځوی، د یوې ښځینه رایه ورکونکي کارډ د یو نارینه په ذریعه منی او یا یو تن ته د رایه ورکولو څو پاڼي ورکوي. که چېری دغه دودیز او منل شوي امر ومنو چې نارینه د کور د مشر په صفت کولای شی د ښځو په اړه پریکړه وکړي، نو حتمی نه ده چې د وکیل او یا استازی رایه ورکول، د ښځو د حقونو څخه د تیري په صفت وګڼل شی.[55] داسی شکایتونه هم رارسیدلي چې د ښځو د ثبت کارډونه غصب شوي[56]. ویل کیږی چې د فاریاب ولایت د غورماچ د ولسوالی پخوانی ولسوال د ښځو لپاره بیل کړای شوي ۹۰۰۰ د ثبت کارډونه په دي موخه غصب کړي ترڅو خپل ۷ محلی سیاسی ټلوالو لپاره په غیر قانونی ډول وکاروي. دغه مسله د افغانستان د ملی پولیسو او د ټولټاکنو د شکایتونو د کمیسیون له خوا څارل شوي او قضیه تر تعقیب لاندی دی.

## VI. مخ په وړاندي کتل

دغه برخه داسی طرحه شوي چي د کمپاین کولو د پاتی مودي لپاره اندیښنی رابرسیره او په دي اړوند چاره کوونکی او مخ نیونکي اقدامات تر سره کړي. همداراز دغه برخه د رایه ورکولو او شمېرلو په اړه اندیښنی چي د کمپاین کولو په موده کي پیدا شوي، روښانه کوي.

### الف. د کمپان کولو پاتی موده.

#### د نوماندانو او ملاتړ کوونکو په ذریعه کمپاینکول

- کاندیدان او د هغه ملاتړ کوونکي د ګواښ، تهدید او تشدد څخه منع کول به د کمپاین د مودی د یوي بریالی پایلی لپاره ډېر مهم وي. ټول نوماندان، او په ځانګړي ډول ولسمشریز نوماندان، باید په پیاوړي توګه خپل ملاتړ کوونکي دي ته وهڅوي چي د نه ګواښ اصول په عمل کي پیاده او هر هکله چي تشدد واقع کیږی دوي باید په ټینګه هغه وغندي. د ښځینه نوماندانو او د هغوی د پلویانو په وړاندي ګواښ باید د نارینه نوماندانو له خوا په کلکو الفاظو وغندل شي. که چیري نوماندان د خپلو سیالانو په اړه اندیښنی ولري، هغوي باید د موجوده حقوقی میکانیزومونو او په ځانګړي ډول د ټولټاکنو د شکایتونو کمیسیون څخه کار اخیستلو ته وهڅول شی چي دغه موضوع ته رسیدګی وشی پر ځاي د دي چي دوي په ګواښ لاس پوری کړي. د دغه حقوقی میکانیزمونو څخه کار اخیستل به د دغي پروسی سموالی تامین کړي.

- دولتی ضد عناصر دي ته هڅول کیږي چي د رایه ورکولو په ورځ د بریدونو او ګواښونو څخه ډډه وکړي او افغانانو ته اجازه ورکړي چي په دغه ستر فرصت کي خپل د رایي ورکولو حق وکاروي. بر سیره پر دي دولتی ضد عناصر دي ته هڅول کیږی چي د خپل سیاسی ترلتیا لپاره د رایو د پانو څخه کار واخلی.

- د دولتی ضد عناصرو بریدونه او ګواښونه زیاتوالی تمه کیدای شی. اړتیا ده چي په هغو سیمو کي چي د ټولټاکنو په اړوند تشدد او ګواښونو امکان زیات لیدل کیږی، امنیتی ځواکونه باید پیاوړي شی. په دغو سیمو کي امنیتی ځواکونو ته د ټولټاکنو په اړه ځانګړي روزنه باید په لومړیتوب کي راشي.

- د کورنیو چارو وزارت باید دا ډاډه کړي چي د ښځنیه نوماندانو لپاره ساتونکو مجاز او یا هم برابر شوي امنیتی ځواک، د هغه د دایریکتیف پر بنسټ، په ولایتی سطحه کي ښه تفهیم شوي وي او دوي ته ځانګړي پاملرنه او مناسبی سرچینی په نظر کي ونیول شی.

- دولتی کارکوونکي کله چي خپله دنده تر سره کوي باید بیطرفه ووسی او بیطرفه ولیدل شی.

- د افغانستان ملی راډیو تلویزیون باید خپل کوښښونه دوه چنده کړي چي ټول د ولسمشریزی نوماندانو، او په محلاتو کي د ولایتی شورا نوماندانو ته، چي د دوي ترلتیا هر څه وی، یو شانته خبري پوښښ تامین کړي. د دغه پوښښ جریان باید واقعی وي.

- په ولایتی سطحه کي دواړه شخصی او دولتی رسنی هڅول کیږي چي د ولایتی شوراګانو ښځینه نوماندانو ته د راډیو او تلویزیون کافی وخت برابر کړي.

#### شکایتونه

- د ټولټاکنو د شکایتونو کمیسیون باید دا ډاډ ورکړي چي د ټولټاکنو د شکایتونو ولایتی کمیسیون عملاً فعاله وي، شکایتونه ومنی او لازمی پریکړې وکړي. د کورنیو چارو وزارت هڅول کیږی چي د ټولټاکنو د شکایتونو د کمیسیون د غوښتنی پر بنسټ د ټولټاکنو د شکایتونو ولایتی کمیسیونونو ته لازم امنیت برابر کړي.

- د نوماندانو د رد صلاحیت پریکړه د ټولټاکنو د شکایتونو د کمیسیون له خوا باید هر څه ژر د رای ورکولو د ورځی مخکی تر سره شي څو د ټولټاکنو خپلواک کمیسیون کافی وخت ولري چي رایه ورکونکو ته اطلاع

ورکړي. د ټولټاکنو خپلواک کميسيون بايد دا اطمينانی کړي چې رايه ورکوونکي په دی آګاه دي چې کوم نوماندان رد صلاحيت شوي.

- د ټولټاکنو د شکايتونو کميسيون هڅول کيږي چې دوي هر هغه شکايت چې د ټولټاکنو د خپلواک کميسيون د چارواکو د طرفداری او فساد په اړه تر لاسه کوي، ژر تر ژره د رای ورکولو د ورځی تر مخه حل کړی څو د ټولټاکنو خپلواک کميسيون کافی وخت ولري چې اړوند برطرفی او يا هم انظباطی اقدام پلي کړي.

**د رايه ورکولو او شمېرلو لپاره تياری**

- د افغانستان ملی امنيتی ځواکونه هڅول کيږي چې د وړانديز شويو رايه ورکولو د ځايونو د امکان په اړه خپله پريکړه د ټاکل شوي مودی، د اګست ۱۰نيتی څخه مخکی وړاندي کړي. د ټولټاکنو خپلواک کميسيون اړتيا لري چې د رايه ورکولو د ورځي په خاطر د مناسب اقداماتو د تر سره کولو لپاره کافی وخت ولري.
- د ټولټاکنو خپلواک کميسيون هڅول کيږي چې د رايه ورکولو د ځای د بدلون په اړه معلومات کره او په کافی پراخه پيمانه د راډيو، تلويزيون او چاپی رسنيو له لاري رايه ورکوونکو او ناظرانو غوږ ته ورسوي. د ټولټاکنو د خپلواک کميسيون په پياړوي ډول هڅول کيږي چې ټول هغه اقدامات تر سره کړي چې ښځي، سپينږري او معيوبين دغو نويو مرکزونو ته لاسرسی وومی و دا په نظر کې ونيسی چې د دغو ګډشويو او يا بدل شويو د رايو په مرکزونو کې د درغليو د کمولو لپاره اضافی اقدامات تر لاس لاندی ونيسی.
- د ټولنو مشران، ملايان او لوړپوری دولتی چارواکی هڅول کيږی چې د ټولټاکنو د خپلواک کميسيون سره د ښځينه تلاشی کوونکی د رايه ورکولو او شمېرلو په ګمارلو کې، په ځانګړي ډول په هغو سيمو کې چې د ښځو تجهيزول په کلکه محدود دي، مرسته وکړي. پرته له دغه کارمندانو د ښځو د رايه ورکولو د حق عملی کول به محدود شی.
- د ټولټاکنو خپلواک کميسيون هڅول کيږي چې د درغليو پر ضد ټول اړوند تنظيمونکی، روزنی او نور تدابير تر لاس لاندي ونيسی چې د هغوي د کارکوونکو، د رايه ورکولو او شمېرلو د کارکوونکو په ګډون، بيطرفی ډاډمنه او اطمينانی کړي. د طرفداری د تورونو پر ضد ګړندی څيړنی او رسيدګي په پياوړي ډول هڅول کيږي.
- څرنګه چې د ځايی مليشياو څخه د رايه ورکولو د مرکزونو د امنيت لپاره کار اخيستل کيږي، حکومت بايد په پوره ډول څارنه وکړي او هر هغه هڅه تر سره کړي چې د امنيتی ځواکونو بيطرفی تامين او د نه ګواښ اصولونه په پوره ډول درناوي وشی.
- د ټولټاکنو خپلواک کميسيون بايد ټول تدابير ونيسی چې د رايه ورکولو او شميرلو په ورځ کې د ناظرانو د ونډی او د کانديدانو د استازو څخه ملاتړ وکړي. په دغه ډول تدابير کې د اړوندو کارکوونکو د دندو سم بيان او د هغو مقرراتو سم پوهول شامل دي چې د دوي پر کار حاکم دي. ناظران او د نوماندانو استازی هڅول کيږي چې د رايه ورکولو او شمېرلو په قواعدو او طرزالعملونو او په دغه پروسه کې د خپلی ونډی د اصولو څخه ځان ښپړ خبر کړي. د نوماندانو استازی، په ځانګړي ډول، هڅول کيږی چې د هر ډول بی نظمی پر ضد د شکايتکولو د طرزالعمل سره ځان عيار کړي، او هڅول کېږی چې د ټولټاکنو د شکايتونو د کميسيون د طرزاالعملو سره ځان آشنا او کله چې لازم وي هغه عملی کړي.
- کانديدان کولای شی د ښځو په ګډون په کافی اندازه خپل استازی مقرر کړي او دغه استازی بايد د ټولټاکنو د خپلواک کميسيون له خوا اجازه ولري چې خپل هغه حقونه چې د ټولټاکنو په قانون کی تسجيل شوی، عملی کړي.

**ب. د رايی ورکولو ورځ او شمېرل**

لاندي د رايه ورکولو او شمېرلو په اړوند د پيدا شويو اندېښنو لنډ ذکر دی چې کيداي د ټولټاکنو خپلواک کميسيون، د ټولټاکنو د شکايتونو کميسيون او ناظران کله چې غواړي خپل فعاليتونه پلان کړي، په نظر کې ونيسی:

- د دولتی ضد عناصرو له خوا د رایه ورکوونکو او په ځانګړي ډول ښځی ته د ګواښ، تهدید او یا د وژولو هڅی.
- د ښځینه رایی ورکولو د مرکزونو د کارکوونکو تعینات، د تلاشی کولو د کارکوونکو په ګډون.
- د رایه ورکولو د مرکزونو او د هغه د شاوخوا د امنیت ساتل.
- د بدل شویو د رایه ورکولو د مرکزونو ته لاسرسی او امنیت تامینول، په ځانګړي ډول ښځو او معیوبینو ته.
- د وکیل او یا استازی په ذریعه د رایی ورکولو خطر، په ځانګړي ډول په ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کلونو کې په هغو ولسوالیو کې چې د ښځینه رایه ورکولو د ثبت کچه په زیاته پیمانه غیرنورمال وو.
- د رایه ورکولو او شمېرلو په ورځ د نوماندانو د استازو او د رایه ورکولو د مرکزونو د کارکوونکو ترمنځ د مشاجری بالقوه اندیښنه.
- د رایه د مرکزونو څخه و کابل ته د رایو پانی او پایلو انتقال او د ساتلو او کنترول د ځنځېر د سلسلی تحفظ او اطمینان.
- د رایی ورکولو د ورځی او د پایلو د تایید څخه وروسته نا امنی، او.
- د ټولټاکنو د شکایتونو د کمیسیون د شکایتونو څخه د تایید د ځنډولو په موخه ناوړه ګټه اخیستل.

---

[1] د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د رئیس وینا S/PRST/2009/21 د ۲۰۰۹ کال د جولای ۱۵ نېټه، لومړی مخ.

[2] د کمپاین موده د جون د میاشتې په ۱۶ څلور ورځې وروسته له هغه پیل شوې چې د کاندیدانو وروستني لیست د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا خپور شو او دا موده به د آګست تر ۱۸ دوام ولري.

[3] د ټاکنو موده به د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د ټاکنو د کمپاین د تنظیمولو د ځانګې له خواد مارچ په ۲۵ نېټه تنظیم شوه.

[4] ای اف پي: "کرزی د ټاکنې مخکې ترسره کېدونکې ټلویزونی مناظرې څخه په شا شو" جولای ۲۳ کله چې د ولسمشر د دفتر د ویاند له خوا داسې څرګندونې وشوې چې ګواکې ولسمشر ته په کافي اندازه وخت کې معلومات نه وو ورکړ شوې چې هغه په نوموړې مناظره کې برخه واخلي.

[5] خپل د صلاحیتونو د برخې په توګه د رسنیو کمیسیون یو اوونېز راپور خپروي چې په هغه کې د ولسمشری ټاکنې د دولتي او خصوصي ملي رسنیو په کچه د پوښښ مساله څېړي. اوس د ولایتونو په کچه رسنیو پورې د اړوند موضوع ګانو د څېړلو کار پیل شوی دی. د رسنیو کمیسیون همدارنګه موظف دی چې په هغو پلوی راپور ورکونو په اړه د کمپاینونو د پوښښ ورکولو په ترځ کې ترسره کېږي غور وکړي. نوموړی کمیسیون همدارنګه یو سپانسر شوی تبلیغاتي پروګرام رامنځته کړی او اداره کوي يې چې د هغه له لارې د ولسمشری ټولو نوماندانو ته د تبلیغاتو لپاره د رسنیزې خپروني وړیا وخت برابرېږي.

[6] د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د سیاسي کمپاین کولو د مالي زیرمو د ښکاره کولو د مقررې له مخې ولسمشری ته، ټولو نوماندان باید د خپلو شتمنیو په اړه معلومات ورکړي او همدارنګه په هرو ۱۵ ورځو کې د خپلو کمپاینونو مهالیزو لګښتونو په اړه ګزارش ورکړي. همدا راز په دې اړه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پرېکړه ۳۵ نیټه ۱۸/۰۶/۲۰۰۹ وګورئ.
[7] "د افغانستان پرېکنده ټاکنې" سرمقاله جولای ۱۳، ۲۰۰۹.

[8] د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون او یوناما له نوماندانو، د ټاکنو د چارواکو، د ټاکنو د کمیسیون د ولایتي څانګو د غړو، او د رای ورکوونکو سره د کمپاین د مودې په ترځ کې مرکې تر سره کوي. همدارنګه د یونیفیم له خوا چې د کومو ښځینه و نوماندانو سره خبرې اترې ترسره شوي دي، په هغو کې د امنیت مساله تر ټولو ستره اندیښنه ښودل شوې ده.

[9] په کابل کې د ده سبز په ولسوالی کې د جولای په ۳۰ د دولت د هغو مخالفینو له خوا چې د ښوونځیو د رای ورکونې د مرکزونو په توګه د کارولو سره مخالف دي، ښوونځي ته اور واچاوه. د کاپیسا په ځینو برخو کې د کلینیکونو او مکتبونو مدیران د مخالفینو له خوا تر فشار لاندې دي چې اجازه ور نه کړي چې د هغوی د ځایونو څخه د رای ورکونې د مرکزونو په ډول کار واخیستل شي.
[10] د مثال په توګه، د جولای په ۱۴، د ولایتي شورا نوماندانو د کندز د ولایت د امام صاحب په ولسوالی کې یوناما ته وویل چې د نوموړی ولایت ٪۵۰ ولسوالي ګانو کې دومره نا امني ده چې هلته د سیاسي فعالیت تر سره کول ډېر خطرناک دي. په ۱٦ د جولای د کندز د خان آباد په ولسوالی کې د ولایتي شورا لپاره نوماندانو یوناما ته داسې ګزارش ورکړ چې د هغوی ولسوالی په ٪۲۰ کې د دولت د مخالفینو د شتون له امله د لاسرسی وړ نه ده. د دلارام، خاش رود د نیمروز په ولایت کې ډېر کم او یا اصلا هیڅ ډول کمپاین نه دی تر سره شوی. د اروزګان په ولایت کې چېرته چې نوماندانو په دهراود او ترین کوټ کې له مشرانو سره لیده کاته کړي، په نورو ولسوالیو کې نوماندان ډېر کم او یا اصلا لاسرسی نه لري.
[11] د مثال په توګه د کابل د پغمان، بګرامي، ده سبز او چارآسیاب په ولسوالیو کې د خلکو استازو او ځایي چارواکو ویلي چې دوی له سلو نه زیات غوښتنې د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته وړاندې کړي دی چې هلته د نومونو د ثبتونې ګرځنده تیم ولېږي خو تر اوسه پورې کومه نتیجه نه ده تر لاسه شوې. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دغسې غوښتنې تایید کړی دی خو ګرځنده

ټيمونه په پغمان کې ۹۰۰۰ رای ورکوونکي، په بګرامي کې ۶۵۰۰ نه زيات په ده سبز کې او ۴۵۰۰ په چاراسياب د ثبت نام په دوهم پړاو کې نومونه ثبت کړی دي. خو ځايي خلک ادعا کوي چې د شرايطو د واجدو کسانو شمير هم په نارينه وو او هم په ښځينه وو کې ترديې لا زيات دی. چاروواکو دا اعتراف هم کړی چې د رای د ورکولو د ټولو هغو کسانو چې ټول واجد شرايط دی ثبت نام يې ناشوني دی ځکه چې ملي پوليس نه شي کولای چې د دوی امنيت خوندي کړي.

[12] د نوموړو دواړو موسسو سره د مباحثې پر بنسټ، د مثال په توګه د (کندز) د امام صاحب په ولسوالی کې د جولای په ۱۴ کې د ټاکنو د خپلواک کميسيون اته مدني روزونکو يوناما ته وويل چې دوي د امنيت د نشتوالی له امله، صرف په دې توانېدلی چې له ۲۰۴ کلېو څخه ۷۰ کلي تر پوښښ لاندې راولي. د مدني روزنې توکې د دوی د راپور له مخې په سيستماتيکه توګه له منځه وړل کېږي.
په شمالي سيمو کې د ټاکنې خپلواک کميسيون راپور ورکړ چې د فارياب په ولايت کې د غورماچ او پشتون کوټ په ولسواليو کې، او د بيلچراغ، دولت آباد، قيصار او ګرزيوان په ځينو کليو کې د امنيت د نشتوالی له امله مدني روزنې نه دې ترسره شوې. نارينه مدني روزونکې په ځانګړې توګه د فراه په ولايت کې د خلکو ګواښونو سره مخامخ دی دا ځکه چې خلک فکر کوي چې دوی هم د حکومت برخې دي.

[13] د ټاکنو خپلواک کميسيون يادونه کوي چې دوی د بغلان لاندې ولسواليو لکه دهانه غوري، بورکه، جلګه، پل حصار، دی شالا او تلاو برفک ۱۴ کليو ته مدني روزونکي و نه شوی استولای. که څه هم په څلورو کليو کې د عام پوهاوي توکې د ځايی مشرانو په منځګړيتوب وليږدول شول.
[14] دا موضوع بايد په ياد وساتل شي چې د ټاکنو د خپلواک کميسيون مدني روزونکو له ۱۶۰۵ کسانو څخه يو کس وژل شوی دی.
[15] د نه تهديد د اصل پورې اړوند ۷۸ شکايت ليکونه، او د بې طرفی په اصل پورې اړوند ۳۶ شکايت ليکونه، او د نه تبعيض په اصل پورې اړوند (ياني د ښځو په مقابل کې د نه تبعيض) ۲۲ شکايت ليکونه او د بيان د آزادی په اصل پورې اړوند ۹ شکايت ليکونه او د خوځښت د آزادئ په اصل پورې اړوند يو شکايت ليک او د سوله ييزو غونډو د آزادئ په اصل پورې اړوند يو شکايت ليک تر لاسه شوی دی.
[16] د کمپاين د مودې په دوران کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون او د يوناما دفترونه د ټولو زونونو څخه ولايتي شوراګانو د نوماندانو پر ضد چې ٤٧ د تيليفونی ګواښونو تورونه د هغه جملی څخه ۷ يې ښځينه او نور ۴۰۳۹ يې نارينه دي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون او يوناما دفترونه همدا راز د ټاکنو د خپلواک کميسيون د چارواکو پر ضد د تيلفوني اړيکو د پنځو پيښو راپورونه تر لاسه کړل او همدا رنګه دا په دوو پيښو کې د ولسمشرئ د کمپاينونو کارکوونکو ته مخالفينو له خوا ګواښوونکې ټيلفونونه شوی دی.
[17] د جولای د مياشتې ۱۹ په کندهار کې يو بله پيښه را برسيره شوه چې په هغې کې درې تنه طالبان د نورو طالبانو په وسيله د خپلو رای ورکوني د کارتونو سره چې د دوی پر غاړه تړل شوې وو د کندهار ښار د کاکرانو په سيمه کې په ونه باندې وځړول شول. هغه کسان چې وژل شوې وو ظاهرا حکومت ته د جاسوسی په تور وژل شوې دي خو دا چې په دې وژنه کې د رای ورکوني له کارتونو څخه استفاده شوې وه ښايي چې خلکو ته يو ګواښ وي چې دوی بايد په ټاکنو کې برخه ونه اخلي.
[18] د جولای د مياشتې په ۲۳ د حکومت ضد عناصرو ولسمشرئ ته د نوماند ملا عبد السلام راکټي پر کاروان باندې پلخمري ته څېرمه د بغلان په ولايت کې د آر پي جي او سپکې وسلې ذريعه برېد تر سره کړې دي. په دغه پيښه کې يو کس ووژل شو او دوه نور ټپيان شول. درې ورځې وروسته د جولای په ۲۶ ناپيژندو وسله والو کسانو د ولسمشرئ د مرستيال دندې ته د نوماند ښاغلی مارشال فهيم پر کاروان باندې د پل ارباب سفر په سيمه کې په خان آباد (کندز) کې حمله وکړه. په دې پيښه کې دوه کسان ټپيان شول. د جولای په ۳ په تخار کې د حکومت ضد عناصرو د ولايتي شورا د ټاکنې د يو نوماند پر موټر باندې پنځوس ډزې وکړې چې نوموړی نوماند په پيښه کې ټپي شو. طالبانو د دې حملې مسووليت پر غاړه اخيستې، او ادعا يې کړې ده چې دوی نوماند او د هغه درې پلاويان يې وژلي دي.
[19] نورې پيښې هم د غزني او زابل په ولايتونو کې ګزارش شوې دي خو لا تر اوسه پورې تاييد شوي نه دی.
[20] د جولای په ۲۷ ناپيژندو وسله والو کسانو د ننګرهار د دره نور په ولسوالی د اوتران په کلي کې د ډاکټر عبدالله د کمپاين پر يوه غونډه باندې حمله وکړه. د ولسوال له قوله د ۱۰۰۰ نه زيات د داکټر عبدالله پلويان هلته حاضر وو، د د پيښې په نتيجه کې د ډاکټر عبدالله يو تن له کمپاين کوونکو څخه په خفيفه توګه ټپي شو. د جولای په ۲۸ د لغمان ولايت د دولتشاه ولسوالی د اوليک په کلي کې د ډاکټر عبدالله پر ځايي کمپاين منيجر باندی په داسې حال کې چې دی د کمپاين غونډې ته ځان رسولو ورباندې حمله وشوه چې په پايله کې يې موټر چلوونکی ووژل شو او درې نور کسان د کمپاين منيجر په شمول ټپيان شول.
[21] د کونړ په سرکانی ولسوالی کې د طالبانو "شريعت غږ" راډيو په دوامداره توګه د ولسمشر کرزی او د ځينی ولايتي شوراګانو د نوماندانو پرضد ګواښنې خپرولې. دغه راډيو همدارنګه د نړيوال پوځې او د افغان حکومت د نظامي ځواکونو پر ضد هم د چوکی، نارنګ، او سرکانی په ولسواليانې کې پيغامونه خپروی. نوموړی خپرونې د کونړ په دريو ولسواليو کې د اورېدو وړ دي. ځايي خلک له دې چې حکومتي چاروواکي د دغې ګواښنې د خپرولو په درولو کې پاتې راغلی اندېښنه ښکاره کړې.
[22] دغه راز نورې پيښې هم د کمپاين د مودې په دوران کې واقع شوې دي. د مثال په توګه د جولای په ۱۹ په لغمان ولايت کې د مهترلام او الينګار په ولسواليو کې د ميکروفون له لارې خلکو ته ګواښنې ورکولې چې د انتخاباتو په پروسه برخه و نه اخلي.
[23] د غزنی په ولايت د جلريز په سيمه کې يوه ښځينه همغږی کوونکې د حکومت د مخالفو عناصرو د ګواښونو له امله دې ته اړ شو له خپله دنده يې استعفا ورکړې. د لوګر ولايت په برکي ولسوالی کې د ټاکنو د خپلواک کميسيون يوه نارينه کارکوونی د حکومت د مخالفو عناصرو له و ټکول شو او دې ته مجبور شو چې له خپلی دندی استعفا ورکړې. څلور د ټاکنو د خپلواک کميسيون څلورو مدني روزونکي د پکتيا په څمکنی او وازه څدران کې د حکومت د مخالفو عناصرو د ګواښونو له امله دې اړ شول چې له خپلو دندو څخه استعفا ورکړې. همدارنګه په خوست د ټاکنو د خپلواک کميسيون يو غړی استعفا ورکړی.
[24] د بې طرفی اصل داسې تعريف شوی چې د حکومتي چارواکی بايد خپلې دندې په بشپړ بې طرفی او بې پلوي کې تر سره کړې د دې شمول چې بايد د دولتي منابعو څخه د کوم خاص نوماند په ګټه کار و نه اخلي. مهرباني وکړئ د افغانستان د اساسي قانون ۵۰ ماده او د ۲۰۰۹ کال د می د مياشتې د ټاکنې په چارو کې د حکومتي چارواکو له خوا د نه مداخلی فرمان وګورئ.
[25] د يوناما او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون د ۲۰۰۹ د جولای د مياشتې ۷ د ګډ مطبوعاتي کنفرانس يادښتونه.
[26] د رسنيو د کميسيون راپور و ګورئ. د بغلان د دولتي ټلويزيون رئيس په دې تورن شوی وو چې ګوندي د ولسمشر کرزی ملاتړ کوي کله چې د هغه ټلويزيون له لارې د ښاغلی کرزی د کمپاين فعاليتونه خپاره شول خو د ډاکټر عبدالله د کمپاين د فعاليتونو په اړه هيڅ يادونه نه وه شوې. د افغاني ژورناليستانو خپلواکي ټولنې په نوي بغلان کې يوناما ته څرګنده کړه چې په بغلان جديد کې د ښاغلی ډاکټر عبد الله په ګټه د يوې غونډې په اړه چې پکې ۵۰۰ کسان برخه اخيستې وو د جولای په ۳ نيټه هيڅ کوم خبري پوښښ ورنه کړل شو، خو کله چې د شکريه عيسی خيل په زيار د حامد کرزی په ګټه يوه غونډه چې پکې ۵۰ تر ۶۰ کسانو برخه اخيستې وه د شلو دقيقو په موده کې تر خبري پوښښ لاندې ونيوله شوه. د جولای په ۵ کې د ډاکټر عبدالله د کمپاين استازی د پلخمري په ښار کې يوه مطبوعاتي کنفرانس تر سره کړل چې پکې د بغلان د دولتي ټلويزيون رئيس او د بغلان ولايت د اداري مدير د ولسمشر کرزی په پلوي تورن شولړ.
[27] مختلف دولتي چارواکې تر سترګو شوې دي چې په خپل دولتي صلاحيت او واک کې د بغلان، غور او کندز په ولايتونو کې د ځانګړو کانديدانو ملاتړ کوي.
[28] د جولای په لومړی نيټه کې د پنجشير ولايت د امنيه قوماندان تبديل شو چې د هغه پر ځای د کرزی د کمپاين د ريس معاون په دغه دنده وګومارل شو، او د کرزی د خپلوانو يو کس د قندهار د امنيه قوماندانی د سرپرست په حيث مقررول د جولای په ۲۱ نيټه کې د بغلان د امنيه هغه قوماندان تبديلی چې ګوا کې د جمعيت د ګوند له پلويانو څخه و او د هغه پر ځای د فهيم د پلويانو يو بل کس ټاکل، داسې ښايي چې ګوندې د دې ترشا سياسی انګيزې وي.
[29] د پروان په ولايت کې ملي پوليس د غوښتنې په وخت کې د ولسمشر کرزی پلويانو ته امنيتي ملاتړ برابروی او په هرات د افغان ملي پوليس يوازی د ولسمشر کرزی د کمپاين دفتر امنيتي ساتنه کوي او د نورو کانديدانو دفترونو امنيت نه ساتې.
[30] د غور د ولايت د معارف د رياست مرستيال خپل کاري وخت اکثره وخت د ولسمشر کرزی د کمپاين په دفتر کې تېروي لکه څرنګه چې د پنجشير د فوايد عامې رئيس خپل وخت دغسې د کرزی په ګټه کاروي.
[31] د جولای په ۳۱ د ملي انسجام ګوند هڅه وکړه چې د يکاولنګ په مرکز کې يوه غونډه جوړه کړې چې د هغې له لارې خپل ملاتړ له ولسمشر کرزی څخه اعلان کړي لکه څرنګه چې په دغه غونډه کې د ګوتو په شمير کسانو برخه اخيستې وو، د کمپاين چارواکې د امنيې د قوماندان څخه مرسته وغوښتل چې ځايي خلک وهڅوي چې د سبا په ورته غونډه کې په پراخه کچه برخه واخلي. د راپور له مخې د ملی اردو افسر د امنيی قوماندان د لارښود مخنيوی کړی و چې په نتيجه کې د دوې ترمنځ فيزيکی اخ او ډب رامنځ ته شو. ځايي خلکو غوښتل چې د امنيې د قوماندان پرضد مظاهره وکړي خو د سپينږيرو په منځګړيتوب شخړه هواره شوه.
[32] د مثال په توګه د جولای په ۹ د ولسمشر دوهم مرستيال ښاغلی خليلي، د پارلمان غړی ښاغلی حاجي الماس او ولسمشر ته د پارلماني چارو سلاکار ښاغلی جګدلک د بغلان د پلخمري په ښار کې د کرزی د کمپاين د پرمخ بيولو په موخه د درېو دولتي هليکوپترونو څخه کار واخيست. د پارلمان غړی ښاغلی محقق د بلخ ولايت د چارکينت د ولسوالی د جم بولاق په کلی کې يوه غونډه جوړه کړه چې پکې ۵۵۰ کسانو برخه اخيستې وو او د کرزی په ګټه يې کمپاين کول. په نوموړی غونډه کې د ملي اردو د شاهين ۲۰۹ فرقې له پنځو موټرونو څخه د برخه والو د انتقال په موخه کار واخيستل شو. د پارلمان غړی ښاغلی محقق همدارنګه د ۴۰ ملی اردو افسرانو په ملتيا دغه غونډې ته ځان ورسول. د ننګرهار د ګمرکاتو رئيس هم په دې تورن

---

دی چې ګوندي خپل واک او دولتي زیرمي یې د ښاغلی کرزی د کمپاین په ګټه کاروي. همدارنګه د کرزی د کمپاین د همکارانو څخه دا نقل شوی دی چې د ننګرهار د ګمرکاتو رئیس د هغه د دفتر سره مالي مرستې کوي.

[33] د جولای په ۱۲ مطبوعات یوه ویدیو یې ثبت او خپور کړل چې په هغې کې لیدل کېده چې د پروان په ولایت کې د ملي پولیسو غړو د ځیني کاندیدانو عکسونه لېرې کوي او پر ځای یې نور عکسونه نښلول. د جولای په ۴ د ننګرهار د ښاروالی نقلیه وسایط لیدل شوي وو چې د ولسمشر کرزي د پوسترونو د لګولو په موخه کارول کېدل.

[34] د مثال په توګه، د اروزګان د ترینکوټ په ښار کې د حکومتي ادارو پر دیوالونو او نقلیه وسایطو په شمول د څارنولی او د معارف ریاست پر دیوالونو او موټرونو او لږ تر لږه د ملي پولیسو پر یوه موټر باندې د کمپاین پوسټرونه تر سترګو کېږي.

[35] د بلخ ولایت د امنيې د قوماندانې څخه درې لوړپوری پولیس غړی (د جنايي، ترافیکو، او دلویو لارو د پولیسو رئیسان) چې د جهادي قوماندانو څخه دي، د کورنیو چارو د وزارت د فرمان په اساس له دندې ګوښه کړای شوي دي. په ځانګړی توګه نوموړي افسران په دې تورن وو چې د لېرې پراته کلیو خلکو سره مرسته کړی وو چې ځانونه مزار شریف ته ورسوي تر څو د ډاکټر عبدالله عبدالله په یوه کمپاین کې برخه واخلي. د دې تورونو تصدیق ډېر ستونزمن دی، خصوصا په دغسی یو حالت کې د پولیسو له دندو ګوښه کولو ورته پیښې ګزارش کېږي په شمول د ګن پارلمان غړیو او سیاسي کمپاینونو رئیسانو چې یوناما دفتر ته راغلی او د دغو پولیسو د دندو څخه ګوښه کولو په اړه اندیښنه څرګنده کړېده کوم چې دوی د هغوی په پاکوالی او صداقت کې باور لري.

[36] د سمنګان، سر پل او کندز په ولایتونو کې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پر چاړواکو باندې هم داسې تورونه لګول کېږي.

[37] څور بریدونه د هغه نوماندو پر ضد چې د حکومت ضد عناصرو سره تړاو لری ثبت شوی دی. د جون په ۳ کې د تخار ولایت د خواجه بهاوالدین په ولسوالی کې د ولایتي شورا د ټاکني یو نوماند تر برېد لاندې راغی. د جولای په ۲۲ حبیب الله د کندز د امام صاحب په ولسوالی کی تر برید لاندی راغی، او د جولای په ۲۶ ولسمشری ته نوماند ملا سلام راکټي موټر پل خمری ولسوای (بغلان) ته نږدی تر برید لاندی راغی او د جولای په ۲٦ د ولسمشر نوماند مرستیال ښاغلی فهیم پر موټر باندې د کندز د خان آباد په ولسوالی کې په سپکه وسله حمله وشوه، او همدا رنګه د ولایتي شورا یو نوماند (جان محمد خان) د جولای په ۱۹ د کندز په علی آباد ولسوالی کې ووژل شو، او خان آباد (بغلان جدید) کې د ولایتي شورا دوه نوماندان د هغو ګواښونو په نتیجه کې چې د دولتی ضد عناصرو له خوا ورته شوي وې، له خپل نوماندۍ لاس په سر شول.

[38] طالبانو درې شخصی راډیويي سټیشنونو ته ګواښنه کړې وو چې خپلې خپروني د انتخاباتو تر تېرېدو ودروي چې په پایله کې یې دوه سټیشنونه په بشپړ ډول ودرول شول، او دریم یې د ځینو تعدیلاتو وروسته په موقت ډول خپل پروګرامونه خپروي.

[39] نارینه نوماندان په پراخه کچه د کمپاین کولو چارو کې له راډیويي سټیشنونه څخه کار اخلي. راډیو پکتیا غږ او د ګردیز ملي راډیو ټلویزیون په انتخاباتو پورې اړوند په ورځني توګه پیغامونه هره ورځ خپروي.

[40] د مثال په توګه په شمال ختیځ کې یوناما ته معلومات رارسیدلی دی چې په نوموړو سیمو کې د ولایتي شوراګانو لپاره نوماندان له ټلویزیوني پوښښ څخه استفاده نه کوي دا په دی مامنا دی چې دوي رسنیو ته د کمپاین کولو لپاره مخه نه وه کړې. د بغلان په ولایت کې ښځینه نوماندان وایي چې دوي ځکه ټلویزیوني سټیشنونه نه کاروي چې دوي ته د دې کار د کولو لپاره کومه بلنه نه وه ورکړل شوې. که څه هم ټلویزیوني سټیشنونه وایي چې دوي دغو نوماندانو ته دعوت ورکړی وو. د سمنګان په ولایت کې ملي راډیو ټلویزیون د ولایتي شورا نوماندانو ته د تبلیغاتو زمینه نه وه برابره کړې په دې پلمه چې دوی ته د کابل د ملي راډیو ټلویزیون عمومي ریاست له خوا په دې اړه کومه لارښوونه نه وه شوې.

[41] د افغانستان د رسنیو د څارنې پروژه، د ټاکنې د رسنیو کمیسیون (۲۴ جولای ۲۰۰۹). د ولسمشرۍ او ولایتي شورا ګانو د ټاکنو د ۲۳ جون تر ۱۶ جولای پورې رسنیز پوښښ.

[42] د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د رسنیو د څارنې رپورټ ۲۴ جولای ۲۰۰۹.

[43] د بغلان په ولایت کې محلي ملي راډیو ټلویزیون په دې تورن دی چې د کرزی د کمپاین هغه غونډې ته چې پکې شاو خوا ۵۰ کسانو برخه اخیستې وه، شل دقیقی خبري پوښښ ورکړ شوی دي په داسې حال کې چې د ډاکټر عبدالله هغه کمپاین چې د جولای په ۳ کې پکې کم تر کمه ۵۰۰ کسانو برخه اخیستې وه، هیڅ کوم خبري پوښښ نه درلود. د یوناما د مداخلې له امله په پروان کې والي د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست ته لارښوونه وکړ چې ټولو نوماندانو سره بې له کوم توپیره همکاري وکړي. او د بدخشان د ولایت په فیض آباد کې ژورنالستانو هم د ولسمشر کرزی او هم د ډاکټر عبدالله عبدالله په کمپاینونو او غونډو کې برخه اخیستې دي.

[44] د افغانستان د رسنیو د څارنې پروژه، د ټاکنو د رسنیو کمیسیون (۲۴ جولای ۲۰۰۹). د ولسمشرۍ او ولایتي شورا ګانو د ټاکنو د ۲۳ جون تر ۱۶ جولای پورې رسنیز پوښښ.

[45] د خوځښت د آزادي، او سوله ییزو غونډو د آزادی نشتوالی دا جوتوي چې دا موضوع کاندیدانو ته څومره مهمه ده چې د ځان د کاندیدولو حق څخه پوره ګټه واخلي او هم رایه ورکونکو وکولای شی د چې خپل د منلو وړ کاندیدانو ته خپل ملاتړ اعلان وکړي.

[46] په کندز کې د ولسمشر کرزی په یوه غونډه کې شاو خوا ۲۵۰۰ کسانو برخه اخیستې وه چې د هغو له جملې څخه ۲۰۰ یې ښځینه برخوالې وې. او همدارنګه د ولسمشر کرزی په پلخمري کې یوه بله لویه غونډه د جولای په ۲۵ نیټه تر سره شوه. د جولای په ۲٦نیټه د ډاکټر عبد الله عبدالله یوه غونډه جوړه شوه چې پکې شا و خوا ۲۰۰۰ کسانو برخه اخیستې وه. په هماغه ورځ باندې د ولسمشری نوماند ښاغلی ډاکټر منګل په جلال آباد کې یوې غونډې ته وینا وکړ چې پکې په سلګونو کسانو برخه اخیستې وه. او همدارا‌ز غني په هرات کې سلګونو پلویانو ته وینا کوله. همدارنګه د جولای په ۲۶ نیټه د کندهار د ډنډ په ولسوالی کې ولسمشر کرزی خپلو زرګونو پلویانو ته وینا وکړه.

[47] د ښځینه پوهاوي او د ټولټاکنو د شکایتونو ولایتي کمیسیونونو ته د لاسرسی په اړه د څرګنده شوې اندیښنې په ځواب کې د انتخابات د شکایتونو کمیسیون خپل ولایتي څانګو ته لارښوونه کړې چې د ښځو د چارو د ولایتي ریاستونو څخه وغواړي چې د ښځو د شکایتونو د ترلاسه کولو او د هغوی د پوهاوی د کچې د لوړولو لپاره لارې چارې ولټوي.

[48] د هغې غونډې په ترڅ کې چې د یونیفیم له خوا د جولای په ۲۶ نیټه د ښځینه کاندیدانو په ګډون تر سره شوې وه، په خوست کې د ولایتي شوراګانو د ښځینه نوماندانو دوه تنه یوناما ته د جولای په ۱ او ۲ کې وویل چې امنیتي اندیښنې د دوی په دې وړتیا چې په ولسوالیو کې کمپاین وکړي، ستره اغیزه کوي. د هغو یوی نوماندی یادونه وکړه چې هغه به د ۱۳ ولسوالیو له جملې څخه یوازې په دریو ولسوالیو کې د کمپاین کولو وړتیا لري. دوی دواړه دې اشاره وکړه چې امنیتي وضعه به دوی اجازه ورنکړي چې په پراخه کچه غونډې جوړې کړي. په کاپیسا کې شپږ ښځینه نوماندان نه شي کولای چې په آزاده توګه د خلکو په منځ کې کمپاین وکړي او دوی خلکو ته د خپلو پیغامونو د رسولو لپاره صرف پر ځایی رسنیو باندې ویسا لري

[49] په لویدیزو او مرکزی سیمو کې د (کابل ښار پرته) دوډیز محدودیتونه د دې لامل شوي چې ښځینه نوماندانو لپاره د رسنیو د لارې کمپاین نه شته، دودیز محدودیتونه ښځینه نوماندانو لپاره د دې خنډ شوي چې مالی زیرمې پیدا کړي او یا دا چې د تلویزیون او راډیو له لارې د هوا په څپو کې د کمپاین لپاره وخت واخلی.

[50] په شپږو ولایتونو کې د مرکزی سیمو په ګډون حالت واضح دی. په کابل کې ټولی ٦۷ نوماندانو کمپاین کوي چې دغه کمپاین د پوسترونو د خصوصی او د کورونو په کچه د غونډو، د دوستانو او خپلوانو د لاری پر مخ بیایی. هغوې د رسنیو د لارې کمپاین ځکه نه کوي چې مالي سرچینی محدودی دي. د کاپیسا په ولایت کې شپږ ښځینه نوماندانې د خلکو په وړاندې کمپاین نه کوي، خو ځینی یې د محلی تلویزیون څخه کار اخلی. د وردګو په ولایت کې د اوو ښځینه نوماندانو څخه دوه یې کور په کور کمپاین کوي، د لوګر په ولایت کې د لسو نوماندانو څخه دوه یې د ځواکمنو سیاسی ګوندونو له خوا ملاتړ لري او په فعال ډول کمپاین کوي، د خصوصی ډلو د لارې خپل د کار کارتونه ویشی خو د محلی تلویزیون څخه ګټه نه اخلي. په پنجشیر کې اوه نوماندانې په آزاد ډول په کلیو کې کمپاین کوي، د هغوې پوسترونه په ټول ولسوالی کې لیدل کیږی. هغوې همدارنګه د خراسان د محلی راډیو څخه ګټه اخلی چې ډېر محدود پوښښ لري.

[51] د جولای په لومړی کې کابو ۴۰۰ ښځینه د زابل په ولایت قلات کې راټول شوي وې او اکثره یې ویناوې وکړې او د ولسمشر کرزی څخه خپل ملاتړ اعلان کړ. د جولای په ۱۹ نیټه د اوروزګان و لایت په ترینکوټ کې د ولسمشر کرزی په ملاتړ یوه غونډه جوړه شوه چې پکې شاو خوا ۴۰۰۰ نارینه او ۵۰۰ ښځینه ګډون کړې وو. همدارنګه د جولای په ۲۹ نیټه د کندهار په ښار کې په سلګونو ښځینه په یوه غونډه کې برخه واخیست چې د ډاکټر عبدالله عبدالله په ملاتړ جوړه شوې وه.

[52] د یونیفیم د رپورټ سره سم د جولای په ۲۷ نیټه د هغه مرکې چې د یونیفیم د ښځو د زیرمو د ځانګې د کارکوونکو له خوا تر سره شوې وو، نورې ستونزې امنیت او د سهیمی سیستم ښودل شوې وو.

[53] په داسې حال کې چې ولایتي شوراګانو ته ښځینه نوماندانو راډیويي خپروني لري (لکه راډیو سحر په لویدیځو سیمو کې او دوه ښځینه کاندیدان د پکتیا په ولایت کې د ملي راډیو ټلویزیون له لارې خپروني درلودې، داسې رپوټونه هم ثبت شوی دې چې د هیواد په ګوټ ګوټ کې، د مالي سرچینو د نه لرلو په نتیجه کې ډېر نوماندان نه شي کولای چې ځانونو ته په رسنیو کې د خپروني او د تبلیغاتو لپاره وخت برابر کړي. د تالقان په ولسوالی کې درې تنه ښځینه کاندیدان یوناما ته په خصوصي ډول وویل چې دوي کافي مالي سرچیني په خپل واک کې نه لري چې ځانونو ته د ټلویزیون او راډیو له لارې د پیغام رسولو وخت برابر کړي. همدارنګه دغه ستونزه د لویدیځ په سیمه کې لکه په هرات، بادغیس، فراه او غور ولایتونو کې هم شته. او په مرکزي سیمو کې لکه پنجشیر، او پروان کې هم ګزارش شوی دی. د یوناما سره د مباحثو په دوران کې د شمال په سیمه کې ولایتي شوراګانو ته ښځینه نوماندانی ګزارش کړی چې د مالي سرچینو د نشتوالی له امله هغوی رسنیو ته لاسرسی نه لري.

[54] د هغې راپور له مخې چې د یونیفیم د ښځو د سرچینو د مرکز له خوا د جولای په ۲۶ نیټه کې تایید شوی دی، پنځه ښځینه نوماندان په پروان ولایت کی د مالي سرچینو د نشتوالی له امله کمپاین نه کوي

---

[55] دهغو شميرو چې د يو ان دي پي د اليکت د پروژې له خوا د جولای په ۲۵ نيټه برابره شوې د ښځينه و د ثبت د مشروعيت په اړه هم پوښتنې مطرح شوي دي.

[56] ـ دغه استدلال د هغو مثالونو پر اساس چې د رايی ورکونکو د ثبت د ښپړولو په موده کې تر سترګو شوې وو، تاييد شوی ښکاري خو تصديق شوی نه دی چې نارينه د ښځينه و پر ځای نومونه ثبت کړي، او په اکثرو مواردو کې يو کس څو ځله دا کار کړی دی. د مثال په توګه په ډيرو محافظه کارو ولايتونو لکه خوست او پکتيا کې، د ښځو د رايی ورکولو د نوم ثبتونې تقريبا د نارينه دوه چنده وه. په پکتيا کې ۷۷۵۳۷ ښځينه نومونه ثبت کړی وو حال دا چې د نارينه و لپاره دغه شميره ۳۹۲۷۶ ښودل شوې وو. په ځينو ولسواليو کې د ښځينه د نوم ثبتونې شميره د نارينه په پرتله څلور چندو ته رسيدلی وه. ويل کيږی د خوست په ولايت کې چې ۷۲۹۳۸ ښځينه خپل نومونه ثبت کړی وه، په داسې حال کې چې د نارينه و د ثبت شو نومونو شميره ۳۸۲۲۲ وه. په يوه ډيره ناآرامه ولسوالی کې چې تيرازی نوميږي د نارينه و د ثبت شويو نومونو شميره صرف ۵۱۷ وه په داسې حال کې په دغه ولسوالی کې د ښځينه و د ثبت شويو نومونه ۲۴۹۴ وه.